# د بــاران سيــورى

دويمه شعري ټولگه

آ صف بهاند

ما بــاندې وطن کې د ځوزانو بـړستن واچوئ
زه پردي وطن کې د وريښمو کمپل نه غواړم

(آصف بهاند)

اهدا:

مورته مې!
چې هر ځلې په اوږده سفر ورنه جدا شوی يم،
خوله به يې له خندا ډکه او سترګې
به يې لمدې وې.

د کتاب پیـژندنه:

د کتاب نوم: د باران سیوری (شعري ټولګه)،

شاعر: آصف بهاند،

د خپریدو نېټه: د ۲۰۱۸ کال اکتوبر

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورټال

# د سرليكونو فهرست


۱ ـ د سر خبرې ۸
۲ ـ د باران سيورى ۹
۳ ـ ايوب تدبير ۱۱
۴ ـ ټالونه ۱۲
۵ ـ ځنازه ۱۳
۶ ـ كله چې درشم اشنا ۱۵
۷ ـ اورونه بل دې شي زما پر قسمت ۱۶
۸ ـ توره تخته سپين كاغذ ۱۷
۹ ـ نمجنې سترگې ۱۸
۱۰ ـ د ناهيليو يو بڼ ۱۹
۱۱ ـ هنداره ۲۰
۱۲ ـ جگړه ده ۲۱
۱۳ ـ انځورونه ستا يادونه ۲۲
۱۴ ـ خوځون ۲۳
۱۵ ـ دنگ داس كه تېره لور ۲۴
۱۶ ـ د پټې خولې غمونه ۲۶
۱۷ ـ غمونه پر سر بار، غمونه تر پښو لاندې ۱ ۲۷
۱۸ ـ غمونه پر سر بار، غمونه تر پښو لاندې ۲ ۲۷
۱۹ ـ د هجر اور ۲۸
۲۰ ـ څو شيبې له باد سره ۲۹
۲۱ ـ د سمڅې د يارانو سكې ۳۲
۲۲ ـ بنديز ۳۵
۲۳ ـ او هجرت پاى نه لري ۳۶
۲۴ ـ د رڼا مرگ ۳۷
۲۵ ـ خنگه دې پيدا كړمه ۳۸
۲۶ ـ د سكروټو باران ۳۹

| | |
|---|---|
| ۲۷ ـ پسرلی و | ۴۰ |
| ۲۸ ـ د هیلو باره | ۴۱ |
| ۲۹ ـ د جگړې ویـښتیا | ۴۱ |
| ۳۰ ـ او زموږ کور یوه ډیوه نه لري | ۴۲ |
| ۳۱ ـ و مې لیدل | ۴۳ |
| ۳۲ ـ جنگونه او غمونه | ۴۴ |
| ۳۳ ـ غزل | ۴۵ |
| ۳۴ ـ ښه ژاړمه | ۴۵ |
| ۳۵ ـ نور وړاندې ځای نه شته دی | ۴۶ |
| ۳۶ ـ نور پسرلی نه شته | ۴۷ |
| ۳۷ ـ ولیکه! دا بله زوکړه ولیکه! | ۴۸ |
| ۳۸ ـ غمجنې سترگې | ۵۰ |
| ۳۹ ـ تورې مځکې او شنې پاڼې | ۵۱ |
| ۴۰ ـ گلزار او اور | ۵۱ |
| ۴۱ ـ سپیده داغ | ۵۲ |
| ۴۲ ـ ودې نه پیژندم | ۵۲ |
| ۴۳ ـ وطن | ۵۳ |
| ۴۴ ـ کله چې درشم اشنا | ۵۳ |
| ۴۵ ـ لاړې | ۵۴ |
| ۴۶ ـ تاند غمونه | ۵۶ |
| ۴۷ ـ ور مه راوهئ | ۵۷ |
| ۴۸ ـ ستا به یادیږي که نه! | ۵۸ |
| ۴۹ ـ د ۱۳۷۸ کال پسرلي ته | ۶۰ |
| ۵۰ ـ ته به اوس څه ولیکې | ۶۱ |
| ۵۱ ـ سجدې | ۶۱ |
| ۵۲ ـ وژاړم که وخاندم | ۶۲ |
| ۵۳ ـ څلوریزه | ۶۳ |
| ۵۴ ـ ساز (د راوي شنکر د مرگ په پار) | ۶۳ |

| | |
|---|---|
| ۵۵ ـ له بخارۍ نه ساړه او له زخمونه ګلان | ۶۴ |
| ۵۶ ـ پاسپورت | ۶۵ |
| ۵۷ ـ که دې په کار وي کرکه. | ۶۵ |
| ۵۸ ـ مباح الدم | ۶۸ |
| ۵۹ ـ وینو کې ولمباوه، په اور کې وسوځاوه | ۶۹ |
| ۶۰ ـ بې له نیتې بې پتې | ۷۰ |
| ۶۱ ـ زما حجرې ته میلمانه راغلي ۱ | ۷۱ |
| ۶۲ ـ زما حجرې ته میلمانه راغلي ۲ | ۷۶ |
| ۶۳ ـ د لیونتوب مبارکي | ۸۰ |
| ۶۴ ـ بار مو تړلی و په سپینې ریښکۍ | ۸۲ |
| ۶۵ ـ بخت | ۸۳ |
| ۶۶ ـ ستا د رخصت په ورځې | ۸۴ |
| ۶۷ ـ د ویر وړانګې | ۸۵ |
| ۶۸ ـ ضدیت | ۸۵ |
| ۶۹ ـ میلمانه | ۸۶ |
| ۷۰ ـ زه هیڅ | ۸۷ |
| ۷۱ ـ تړلی ستونی | ۸۷ |
| ۷۲ ـ بس لکه دوه میـینان | ۸۸ |
| ۷۳ ـ کلی او ځلی | ۸۸ |
| ۷۴ ـ د زړه حال | ۸۹ |
| ۷۵ ـ راکټونه خیراتونه | ۸۹ |
| ۷۶ ـ مات زړګی د ویر لښتی | ۹۰ |
| ۷۷ ـ د ګناه ټیکه داران | ۹۱ |
| ۷۸ ـ نوی کال، نوې وینې | ۹۲ |
| ۷۹ ـ «مرغان دې راشي زما لپو کې دې ځالې وکړي» | ۹۳ |
| ۸۰ ـ کلی، اور او جګړه | ۹۳ |
| ۸۱ ـ زما زړه نه پیـژني | ۹۴ |
| ۸۲ ـ د رڼا څرک وینمه | ۹۴ |

۸۳ ـ د سانسور زولني ۹۵
۸۴ ـ مات زړه ۹۵
۸۵ ـ پر چړو باندې ختل دي ۹۶
۸۶ ـ خامو تمو تباه کړی ۹۷
۸۷ ـ په گونډو يې کړلو ۹۷
۸۸ ـ د مني باد ۹۸
۸۹ ـ خيالونه، زيارتونه ۹۹
۹۰ ـ زما ځواني ۱۰۰
۹۱ ـ لکه همدلته مې چې کور شولو نور ۱۰۰
۹۲ ـ مه ځه! ۱۰۱
۹۳ ـ بې تا تياره ده راته ۱۰۲
۹۴ ـ د قدم گرد ۱۰۲
۹۵ ـ دغه تقدير دغه عالم بدلوم ۱۰۳
۹۶ ـ د هادي، هادي خوب ۱۰۳
۹۷ ـ حجريان (د رخشاني سنگسار) ۱۰۴
۹۸ ـ مازديگر ۱۰۴
۹۹ ـ «زه به نه ليونی کېږم؟» ۱۰۵
۱۰۰ ـ لارورکي لارويان ۱۰۶
۱۰۱ ـ د شاعر پېژندنه ۱۱۴

# د سر خبرې

ښخوا چيرې ويل شوي و چې: شعر يو لرې نا اشنا وطن ته سفر دی. که دا خبره ومنل شي، نو داسي هم ويلای شو چې: شعر پر نا بلدو لارو باندې يو نازک فکري سير دی، شاعر داسي عکاس دی چې د خپل ژوند او چاپيريال ښېښي او ځانګړې شيبې، چې ده ته مهمې دي، عکاسي کوي او دا شيبې د کلماتو په جامه کې تلپاتي کوي.
زما ژوند ښېښي داسي راغلي دي چې زموږ په ټولنه کې د رنګارنګ بدلونونو په اثر مې دننه په وطن کې او دباندې له هېواده، يو ځل نه، بلکې په لسګونو او سلګونو ځلي ځايونه بدل کړی دي او دا بدلون هيڅکله په خپله خوښه نه و.
د بيلابيلو ټولنو او چاپيريالونو؛ ژبو ـ کلتورونو او سياسي ټولنيزو بدلونونو، زما په فکري سير کې هم بدلونونه راوستل. که له يوې خوا مې د تجاربو خزانه غني شوه، نو له بل پلوه يې څه منفي اغيز او فکري بدلونونه هم رامنځ ته کړل؛ او دا بدلونونه خامخا د هر انسان په فکري پرودکشن کې هم ليدل کيږي.
د شعر په نامه زما د فکري سير لومړنۍ ټولګه د «مروره مځکه» په نامه، په ۲۰۰۹ م کال چاپ او خپره شوه. اوس دا دی خپله دويمه شعري ټولګه «د باران سيورى» تر سرليک لاندې خپروم. دا په بيلابيلو چاپيريالونو کې زما د بيلابيلو برداشتونو ټولګه ده چې ما د خپل فکر او اند له مخې د ژوند او ژوند ښېښو ځينې خاصې شيبې د کلماتو په جامه کې تلپاتې کړې دي او دا دی د خپلو شعرونو د دويمې ټولګې په ډول يې ستاسو درانه حضور ته وړاندې کوم.

آصف بهاند

د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر مياشت

هيدرسليف

ډنمارک

# د بــاران سيـورى

ستا خو يادېـږي که نه!

هماغه ورځ پسرلنی باران و

هماغه ورځ مازديګر شړقنده باران وريده

د باران «ورا» وه راروانه له آسمانه ځنې

چې زه درپېـښ شوم  ورسره د تاسو کلي باندې

ته لکه سروَ وې روانه د ګودر پر لوري

ما د آسمان تبی ته پاس وکتل

وريځې شوې ماتې

لکه مات مينان

د لمر زرينو وړانګو وخيرلې

او له يو بل نه سره لرې شولې

خو باران څاڅکی، څاڅکی

و، راروان لکه يو وړی ګدا

او ستا د مخ د يوې مچې

په خيرات پسې ی عذرونه کول

ما و تا يو بل ته  په سکوت کې کتل

زما و ستا سترګو

نه ښه ويل، نه کتل

خو په ګونګی ژبه يې

يوه او بل ته مسيژونه ليـږل

له مسيژونو وړاندې

چې مې ناڅاپه ستا بارخو باندې يو ښه وليدل

ما ستا د مخ په آيينه کې

د باران د ښاڅکو سيورى وليد

۲۰۱۳/۰۶/۲۱
غنس
ډنمارک

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋

❋

# ایوب تد بیر

(د استقلال ورځ)

بیا د ایوب پر توره ګرد پریوت ځلا غواړي
د ملالۍ د تندي تیک نوې رڼا غواړي

خوار خلک رنځ ګالي جفا ده په هر لوري خوره
بل څه شی نه غواړي، بیوزلي بس وفا غواړي

اهریمن راغی جام په لاس د وینوغوړپ ته تیار
رګو کې وینه وچه شوې ده سزا غواړي

افغان زلمي تر چا جاریږي خدایه څه وشول دا
هغه چې ګور ته دي تګونکي بیا بقا غواړي

دغه ټوپک بم راکټونه به تر څو لوبوو
لوی ښاماران بیا د عیسی هغه امسا غواړي

ښاماران بیا ژامې چیچي د ملالۍ خورکۍ ته
د اکبر زړه ایوب تدبیر یو ځلي بیا غواړي

دوی ته یو ډال د عقیدې ښه لوی په لاس ورغلی
خو دوی کافر دي یو هادي او انبیا غواړي

هیدرسلبف
ډنمارک

# تـالـونـه

د غم دي تالونه

پورته ځي

ښکته راځي

کله شنه شي

کله سره

د وير ننداره ده

را په برخه ما مظلوم ته

تقدير زما خوار دی

په غولو لړلی

په میتیازو ده وللی

۲۰۰۲/۰۸/۱۸
هيدرسليف
ډانمارک

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋

❋

# ځنا زه

د مردکو باران کې
څو توتکيو
د يو باز ځنازه
د باتور باز ځنازه
خاورو ته وسپارله
څه نا آشنا خاورو ته
او خپله کيناستلې
تورو سيمانو
وچو ځانګو باندې
څه پسرلی و
د ظلمو پسرلی
دې پسرلي کې هر څه تاند نه وو
ښه وچ وو
او ډير ښه سوځيد ل
هلته د ظلم چم کې
ويني په ځاځکوو نه، په ليو تويدې
او د مرګونو تور واکمن ورنه غوړيونه کول
ښار نور هغه ښار نه و
د ماښامونو او د وينو ښارو
د اور او وسپنو د قهر باران

په شيبو نه،

په ساعت نه،

په ورځو نه،

دا څو کلونه دي راوري پسې

د هر يو کلي

هر يو کور لارو کې

يوه نه،

دوې نه،

په سل ګونو کربلاوې جوړې

نه کومه چيغه وه، نه اوښکه

په ټولو خولو باندې مهرونه د سکوت وو لګيدلي په زور

خو دا سکوت به ايګوخان ماتاوه

خپلو خنداوو سره

او بس يو څاڅکی اوبه

د هر يو ستوني اميد

خو د وچ ستوني لمدول ګناه وه

دوه ثوابونه وو د خلکو مخ کې:

د ايګوخان د خندا کړس اوريدل

مرګ ته د ژوند ورکول

چوپه چوپيا وه په هرلوري خوره

د ايګو خان د وحشت دار پر دغو خلکو حکومت کولو

بس د ګولواو راکټو اختر و

د تندرونو باران ښکته راته

په دې باران کې هيڅوک نه لمديدل

په وينو ښه لمبيدل

په دغه اور کې د ازغو په نامه

ښکلي ګلان سوځېدل

دې توتکيوو

د دي باز ځناز

په وزرو واخستله

له نا آشنا خاورو نه

او له آشنا ظلمو نه

چيرته کي لري

د مراد سيمه کي

خاورو ته وسپارله

د ۱۹۹۴ ميلادي کال جنوري
ماسکو

# کله چي درشم آشنا

گوره چي ترږی بلبل

کله گلزارته درمي

داسي به درشم آشنا

ته به گلزار

زه به بلبل

وطن به اور وي

که گل؟؟؟

کله چي درشم آشنا!

* * * * * * * * * * * * *

* * * * * * * *

* * * *

* *

*

# اورونه بل دي شي زما په قسمت

چيرې يې

ته چيرې يې؟

ته چيرته لرې په پردي وطن کې

نه!

خوله مې دې ماته شي بيا

ته مې په خپل

نه!

ته مې په خپل،

خواوس پردي وطن کې

زه دي د زړه په منځ کې

خو درنه لرې، لرې

ته مې د زړه پر تخت شاهي کوې نن

او زه ياغي باغي

په بله سيمه

ته مې د زړه په منځ کې

هره شيبه مې لاربنوونه کوې

خومره چې ګورم په هر لوري

چيرته نه دې وينم

دغه بيلتون وصلت دى

او دا وصلت بيلتون دى

اورونه بل دې شي زما په قسمت

١٣/ ١٢/ ١٩٩١
ماسکو،
روسيه

# توره تخته سپین کاغذ

ستا دغومبورو

د غوچوړو

سرسپارلی یوسف

یوازې زه یمه،زه

دبد نامو

توردا غوله پاره

توره تخته

اوسپین کاغذ یمه زه

ته مې قلم اوقسمت

خپله دې خوښه چې هر څه پرې لیکې

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋ ❋ ❋

❋ ❋

❋

# نمجنې سترګې

په توله شپه کې يو څراغ هم نه شته
په دې لوی ښار کې يوه چيغه تر غوږ نه راځي نن
په توله ورځ کې مې يو سپڼ وانه وريد
لکه ښه توره يوه شپه بې ستورو
زړه مې يوازې ناست دی
لار مې مالومه ده، خو پښې مې ستړې
زړه مې ستړی
د پاخه درد د داستانو غمجنې پاڼې
سره اوړې پسې
او زړه مې
په دې غمجن حالت کې
د تير برې
آ پخوانۍ سندرې
تر شونډو لاندې
زړه په سر کې
په وار، وار تکراروې ورپسې
او دا نمجنې سترګې
د يو برې له پاره لارې څارې

* * * * * * * * * * * * *
* * * * * * * *
* * * *
* *
*

# د نا هیلیو یو بڼ

زه یو سوالګر ومه د ورانو کوڅو

ما ته د خیر کچکول کې

چا د امید کومه دانه را نکړه

چا د امید د ګلو

کومه دسته را نکړه

له هرې کندې کنډوالې دا آزانګې راوتې:

دا دی درواخله د یأسونو یو ګل

چې امید نه پیژني

ما د امید په سترګو

په بیړه، بیړه

شا و خوا ته کتل

خو بل څه نه و

له هرې کندې کنډوالې نه بس دا غږ تر غوږ و:

سوالګر ته بل څه نه شته

د نا هیلیو یو ګل

د ناهیلیو دسته

د نا هیلیو یو بڼ

۲۰۰۱/۰۱/۱۳
فردریکس هاون
ډنمارک

❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋❋

❋❋❋❋❋❋❋❋

❋❋❋❋

❋❋

❋

# هنداره

هنداره پاکه  ده

بيباکه ده

شفافه ده رښتيا وايي

په رڼوګوري

څه چې ويني

هغه بيا وايي

داده رينتوني

ښه بيباکه

چې صفا وايي

خو!

دوه عيبونه لري:

ماته يې مه کړې،نه جوړيږي

اوماغزه نه لري

۰۹ /۰۷ /۲۰۰۹
هيدرسليف
ډانمارک

# جګړه ده

ګرانه!

بيا ووايه:

راته ګرانه يې

يو ځلې

او څو ځلې

بيا ډيرځلې

وروسته له غمو له هجرتو

راته ګرانه يې

له پخوا ډيره

لکه اوس

وروسته له غمو

وروسته له جګړو

آه!!!

څه وکړم

جګړه ده

۲۰۰۹/۰۷/۰۳
هيدرسليف
ډنمارک

* * * * * * * * * * * * *

* * * * * * * *

* * * *

* *

*

# انځورونه ستا يادونه

چې را پيښ شي ستا يادونه
ټوله مړاوي بيا را تاند شي
را په غوږ چې دې کوم غږ شي
آزانګې په ګړنګونه
سپيرې دښتې سره ګلان شي
شاړې مځکې بلاربې بلاربې
اوموسکي شي تور کمرونه
پاس ولاړ شنه آسمانونه
لاندې مځکې سره ګلونه
چې را پيښ شي ستا يادونه
رنګين خيال او انځورونه
شنه سپرلي اواتڼونه
ښي وږمې،شنه خادورونه
ټولې ګوتې مې قلم شي
نوي نوي کلامونه
اوپرژبه مې جاري شي
انځورونه ستا يادونه

۲۰۰۹/۰۷/۰۳
هيدرسليف
دانمارک

# خوځون

تورو مځکو!

تورومځکو!

ما به وخورئ

ما به وخورئ

په خو ځلي

او شنو پاڼو

او شنو پاڼو

ما به وروڵئ

ژوندون ته

۱۹۹۲/۰۵/۲۶
ماسکو
روسيه

*******

******

*****

****

***

**

*

# دنګ داس

# که
# تیره لور

دغه داس دی

تیره لور دی

د ثواب او ښو کارونو

دغه داس دی

دغه کور د ګناهونو

تیره لور دی

د اوچتو اورمیږونو

دغه داس دی

تیره لور دی

د ثواب او ښوکارونو

دلته داس دی

تیره لور دی

د هر پل

د ښوو کارونو

د ريبلو

د هر يو، يو ثوابونو

دلته داس دى

تيره لوردى

هر يو ګام کې ثواب ريبي

اورمېږ ريبي

دلته دي د بدو خلکو

ښکلي، دنګ او لوړ کورونه

که ښه خلک چيرې وي هم

بس په داس باندې ريبل شي

تيره لور باندې را ړنګ شي

د غرور جګ اورمېږونه

بس مخکته باندې ړنګ شي

کړي ښه، د غاړې طوق شي

په ښيګڼه ملامت شي

۱۹۹۴/۰۱/۱۷
ماسکو
روسيه

*******

******

*****

****

***

**

*

# د پټې خولې غمونه

داسې چې عمر ژر تیریږي
ورځ هم تیره شوله
ژیړ مازدیګر کې
زه او ته ولاړ وو
په حیرانتیا مو یو او بل ته کتل
او د خیالونو په کښتۍ کې په کوم لوري روان
د سترګو ژبه کې مې پوه کړلې
او ومې پوښتې:
سیورى دې نه اوږدیږي؟
تا وې اوږدیږي، ولې؟
په پټه خوله غمجنو سترګو چې مو سیوري کتل او کتل
سیوري په خپله اوږدیدل اوږدیدل
زه او ته لرې، لرې
او زموږ غمونه
زیاتیدل، زیاتیدل

۱۹۹۲/۰۵/۲۶
قزاقستان

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋
❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋
❋ ❋ ❋
❋ ❋
❋

# غمونه پر سر بار،

## غمونه تر پښو لاندې

### ۱

غم له هر چا را چاپیر لکه لمر دی
څوک پر سر ورته ولاړ د چا پر سر دی

بس توپیر یې په همدغه کې لیده شي
څوک یې ایسته غورځوي د چا پرهر دی

۲۰۰۸/۰۴/۱۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# غمونه پر سر بار،

## غمونه تر پښو لاندې

### ۲

غم هر چا سره میلمه دی په خپل کور کې
څوک یې پښولاندې کوي څوک یې وړي ګور کې

څوک یې سر باندې انبار کړي ورته ژاړي
څوک یې هره ګړی ورکړي په یو پور کې

۲۰۰۸/۰۴/۱۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# د هجر اور

ته شيبه شوې

لکه شعر

ستر ګو رپ کې

ژر پناه شوې

لکه خندا د کليوالو له خولې

او زه

پر سپينو واورو پوست ورکيناستمه

خو هغه واورې نه وې

سپينې پستې هم نه

د هجران اور و

زه يې بنه وسيځلم

ماسکو ...

*******

******

*****

****

***

**

*

# څو شيبې له باد سره

باده په خير راغلې

لږ خو راتم شه، غږ مې واوره

اې د ملکونو پاچاګيه!

اې ازاده!

زه درويزګر يم

د خبرو، احوالونو ګدا

تا سره شته زموږ د کلي احوال؟

ستا خوږ شيرام

او يا هم تنده څپه

زموږ پر کلي او کور

راتيره شوې که نه؟

کلى؟؟؟

کوم کلى؟

آ، زموږ کلى

آ، شين کلى

آ، جنتي تاتوبى

چې به هلته هره ورځ په ګدا سر وې

او د پيغلوتو له پيکونه به مست تاو راتاو شوې

آ زموږ کلى چې د تولو هير دى

خو د تولو په ياد

ستا خو به هير نه وي، په ياد به دې وي

جنت نشا ن يادوم

افغانستان يادوم

تا زموږ د کلي پانې

پسټو لاسونو کې نیولي که نه؟

زمونږ په کلي کې شنیلی و که نه؟

ګوره! پښتو وکړه رښتیا ووایه

ستا زمونږ د کلي

پر رنګ شوي دیوال

کله نظر ولړید

زمونږ د کلي هدیره باندې راتیر شوې که نه؟

د ځوانیمرګو قبرو حال څنګه و؟

جلادان وایي چې ډیر شوي هم دي

تا زمونږ د کلي

د مړستون

شنې، سرې او سپینې جنډې

بیا رپولي که نه؟

باده پښتو راسره وکړه او رښتیا ووایه!

باده زه تا ته وایم!

زمونږ په کلی کې ډ زا وه که نه؟

د کلي شنه آسمان کې

تور اوسپنیز باز ګرځیده او که نه؟

بیا یي د اوسپنو باران وروواوه؟

په چوپه خوله او لمدو سترګو ننواتي کوم

ښه ځیر شه، بیا وګوره:

چې کله ژنی وم

زلمی وم
داسې نه وم

سترګې دې پرانیزه

په ځیر وګوره

«زه چې زلمی وم نو همداسې ومه
دا زما تصوير دی»
نو ته رښتيا ووايه
زموږ د کلي ځوانان
بيا د ظلمونو د برچو په څوکو
په خړ مخونو او سرو سترګو
يو د بل وينو ته بيا ناست خو نه وو؟
باده پښتو راسره وکړه او رښتيا ووايه!
زموږ د کلي ګودر وران و که ودان پاتې و؟
زموږ په خړ کلي کې
د پسرلي د پلونو
ښکالو چا واوريدله؟
زموږ په کلي کې سيرليان پاتې وو؟
زموږ د کلي ليربه
سبايي وخته
په بې خوبه سترګو
د لاړې
غړ کولو؟
*****
باد په مستئ کې رانه تير شو
او له مازې يې په شا وکتل
هغه تر شونډو لاندې ورو وويل:
زه د اورو وطـن ته تـلی نه شمه
چيرې چې وينې وي کتی نه شمه

۰۰۰ ماسکو

# د سمڅې د يارانو سکې

دا دی ناست يم

او يوازې ځان ته ژاړم

هر څه مړه دي

خاطرات تپې، تپې دي

او د مرگ درشل کې ناځې

پر مخ لاړې غورځوي را

زه هم مړ يم

خو، خوځيږم

ماته هر څه دښمن شوي

خپل دښمن

پردي دښمن

ورور په کاله راته تربور ناست

زه بيوسه لکه مږی

خوله مې پټه

ژبه لال شوه

بس يوازې ورته گورمه په غټو، غټو

او دغه غټې چينې

رڼې اوبه خوټوي

هر څه ساړه شول

خودښنه او تربرونه لا هماغسې تاوده دي

زه خو مړ يم

ناست يم پر خپل مړي ژړا کومه
ورته ګورم چې دښنه مي
پيا لي د وينو پاس پر سر تړلي
زما پر مړي باندې باړ چلوي
خو زه مړ يم
داسې مړى
چې پر هر خوا قدم اخلي
ما ته هيڅ راپاتې نه دي
بس يوازې زما د ذهن له دالان نه
د ښې درندې خندا غږونه
د دې ټولنې ذهن
سخت په لړزه راولي
ستونى مي ډيرو چيغو
دومره لوى کړى چې باور دې نه شي
لکه زموږ د کليوالو د قبرو هديره
او د خندا د زلزلې څپې مي
د سونامي په شانې
د زورواکانو پر سر اور بلوي
هو!
ستونى مي ډيروچيغو
ښه رالوى کړى
د ليونيو خندا ګانو يو سيلاب ورنه ډير ښه راوزي
نه!
يو طوفان راروانيږي
چې د نوح طوفان يې څاڅکى به وي
زه خو بيوسه يم
زه مړ يم
لکه خوب چې ګورم

د یویشتمې پیړۍ

لویه خپسه راباندې ناسته

او زه چیغې وهم

زما د ذهن له انګړ نه لویې چیغې خیژي

چې را ویښیږم، ګورم هر څه سپین دي

مځکه سپینه

آسمان سپین دی

هر څه سپین، سپین راته ښکاریږي

یوازې زه تور یمه

ځان سره وایمه چې:

مړی خو هره ورځ

توریږي پسې

د کوم زلمي د ځوانې وینې ښکالو

دې ته ور ځیر کړمه

چې زه هم سپین یم

او کومه پانګه لرم

زما د ژوند پانګه

دا درې سکې وې:

خلک

وطن

او مینه

توره ټاپه وه لګیدلې پر دې ټولو سکو

او د نا تار بازار کې

خلکو خند ل ویل یې:

چې دا نا چله سکې

نور د نصوار بازارکې نه چلیږي

۰۸ ـ ۱۲ ـ ۲۸
هیدرسلیف
ډانمارک

# بنديـز

زما د شگلن ذهن له لويې دښتې

د نا ويلو هيلو

يو څو سرکش ماشومان

د څه ويلو په نيت

په منډه، منډه راغلل

خو...

زما د ستوني لوى دهليز کې

څه غوغا جوړه وه

ماشومو هيلو، په ماشوم غږ سره

د څه پوښتنه وکړه

او ښه يې واوريدل دا:

چې د لغاتو ځوانيمرگې ډلې

سر په لاسونو وهي

او را وتلاى نه شي

۰۰۰ ـ ماسکو

# او هجرت پای نه لري

دا دی پیړی واوښتي

دا دی نسلونه یو په بل پسې زلمي شول او زاړه شول او زړیږي پسې

خو هجرتونه لا روان دي او زیاتیږي پسې

زموږ د کلي مرغۍ لاړې مهاجرې شولې

زموږ د کلي چنجیان

زموږ د کلي غنې

کوم ځای ته لړې لار وهلی نه شي

هم اوسیدلای نه شي

کور کې یې اور بل شوی

اور ته ورتللای نه شي

ځکه روان دي هجرتونه کوي

او هجرت پای نه لري

۰۰۰ ـ ماسکو

*******

******

*****

****

***

**

*

# د رڼا مرګ

مرګ دی چې ګرځي

سترګي سرې اولورپه لاس

بيا يې کروندې ته سترګي واوښتي

بيا زموږتنکي فصل ته ورسيد

بيا يې په ډير قهر خيره واوښته

غاړې غوټوي دغوړيدلوشنوفصلونوبيا

تنده ماتوي په غوټولوبس

لوږه ورکوي په تش ريبلوبس

هرخواته ګلان اوشنيلي ژاړي چې

بيا په رڼا ورځ د رڼا مرګ راغی

۲۰۱۱ ـ ۰۲ـ ۰۱
هيدرسليف
ډانمارک

*******

******

*****

****

***

**

*

# ښکلې دې پېدا کړمه!

زه به ستا په لټه کې

غره په غره راوګرځم

سيند سره به منډې کړم

بيا به ترې را تاو شمه

شين چمن به وګورم

بيا به په کې کوکې کړم

سترګې به لمدې کړم

د هر وره مخ کې به وژاړم

تا به زه پيدا کړمه؟

۲۰۱۱ ـ ۰۲ ـ ۰۱
هيدرسليف
ډانمارک

*******

******

*****

****

***

**

*

# د سکروټو باران

د توتکو پر ځاله

د اور باران راغی

پر کليوالو په شيبو نه، په کلو وورېد

تا به وې دغه آخري زمان دی

خلکو وې موږه ګنهکار يو، که څه؟

دغه زموږ د ګناهونو عکس دی چې

له آسمانونه نازل شوی دی د خدای لوی غضب

او دا دی موږ ته معجزه راښيي

د ځګرې غږ سره سيلاو راغی

خلک د اور خوراک شول

خپله ګناه باندې دوی پوه هم نه شول

چې پرې د پاسه د سکروټو بارانونه اوري

د۱۹۹۴ کال جنوري

ماسکو

*******

******

*****

****

***

**

*

# پسرلـی و

وريځې

زمور د کلي

کنډوالو

وچو ډاګو په خاطر

لکه پيروته

سره تاوې

زرغوني شولې

خو له ناکامه نه يې

دا خپلي اوښکي

زمور پر کلي تويي نه کړې

په زورند سر يې

نا مالوم لوري ته

لمني تولي کړلې

وريځو ژرل په ورت، ورت

اوپه ستې، ستې سره

زمور له کلي کډه شولې

او نور له شرمه نه يې

شا ته و نه کتلې

۱۹۹۷/۰۳/۲۵

ماسکو

# د هيلو باره

باره مي د هيلو لړ څه جګه کړه

په اميدونو ډيوه ولګيده

پتنګان تاو شول ورنه

ما د ژوندون

د خوشحاليو لړۍ

له پيل ترپايه

تا پورې وتړله

۲۰۰۱/۰۳/۱۵
فريدريکس هاون
ډانمارک

# د جګړې وينتيا

زموږ په کلي کې د شنو غنمو فصل نه شته

لار له ځوزانو او ازغو ډکه ده

د هر انګړ د دروازې مخې ته

د سرو ازغيو، سور لښکر ولاړدى

زما د اولس تنکي زلمي او پيغلې

د يوه جنګ په درانه خوب ويده دي

داسې څوک نه شته چې جګړه غلې

اورونه مړه کړي

ما د جګړې له دې اوږدې وينتيا نه

د آرامۍ سيمې ته پورې باسي

۲۰۱۰/۰۵/۱۵
هيدرسليف
ډانمارک

# او زموږ کور يوه ډيوه نه لري

څه راغله

او څه راځي

زه چيرته

او ته چيرته

زه په رڼاوو

ته تياروکي اوسي

دغه تياره او رڼا

يو د بل مخ ته په تينګار ولاړ دي

زه چيرته

او ته چيرته

ته د رڼا وطن کي

تيارو،غمو ته ناسته

او مات غړونه دې هوا ته درومي

زه د شنيليو بڼ کي

يو وچ ګودر ته ناست يم

ستونی مي چيغو را لوی کړی

غږ مي هيڅوک ناوري

زه د رڼا په ښارکي

يوه رڼا کوټه هم نه لرمه

د زړه انګړ کي مي تياره ده

او د شپي لاس مي پر اوږو باندي دروندوالی کوي

دلته لوی ښار کي په هر لور رڼا ده

او زموږ کور يوه ډيوه نه لري

۲۰۰۰/۰۷/۰۷
فريدريکس هاون
ډانمارک

# ومې ليدل

د غرور پيغله چې ما ليدله

نه ايليدونکي روانيدله

پيکي توربانديې

باد لوبيدلو

د باد څپو کې چې مې ليدل بيا

مغروه پيغله د بارانه وه

سختو پيچومو، له آسمانه نه

له ډير، ډير پاس نه

ښکته راتلله

او زما د کلي

نه ايليدونکي

پيغله په جبر

د کورتيارونه

روانيدله

۱۳۷۲/۰۹/۲۶
ماسکو
روسيه

# جنګونه او غمونه

ماته نه لرې
نږدې جنګونه
لرې نږدې ډير، ډيرغمونه
ډير بنه راياد شي
هغو کې وسول
د ژوند ځيزونه
او ډير سرونه
هغو کې خاورې
آهونه ډير، ډير
هغو کې ځواني
څه تاندې ځانګې
د رژيدلوغيرى ته لاړې
هغو کې جګ شول
ځوان، ځوان غرونه
هغو کې مات شول
ځوان ورميرونه
زما وطن اوس
يو پوليګون دى
د ځوان سپين ږيرې
ماشوم وجود هم
چا ته ووايم چې وطنوال مې
د بنامار خولې ته بنکته پريوتې
زه يې راباسم بنامارچيچلې

۱۳۷۲/۰۹/۲۶
ماسکو
روسيه

# غزل

چيرې يې کراره، لرې آرام غواړم
ډير يم ستړى شوى ژرانجام غواړم

هرزيرى چې راغى د بدى زيرى
سترګې مې خلور، نوى پيغام غواړم

دومره يمه ستړى، چې نور تلاى نه شم
دغه ژوندون اوس زه له ناکام غواړم

ډير دې رنځوران کړل ته آباد نه شوې
زه خو په هر ګام کې کار تمام غواړم

تا ته دښکنځلوازغي هرګام کې
تا ته ګل ګلونه په هرګام غواړم

۲۰۱۱/۰۱/۳۰
هیدرسلیف
ډانمارک

# ښه ژاړمه

زړه مې زاره ځاى کې

يو تنګ ځاى کې

سره رانغاړم

پټوم يې

چا تې نه ورښيم

هغې کوټې کې چې کړکى نه لري

لومړى پر ځان

بيا د اميد په هيله ښه ژاړمه

اوښکې په لپو ټويومه

د هندارو غم په زړه راوړمه

او بيا هم ښه ژاړمه

۲۰۱۱/۰۲/۰۲
هیدرسلیف
ډانمارک

# نور وړاندې ځای نه شته دی

او لرې نور نه شته ځای

چې يې سودا کې بل قدم واخلمه

کله ماهي ته د اوبو ژورې برخې لکه بڼ داسې وي

خو ورته ګورشي يو وار

ما ته هم کور، کلی، وطن لکه ګلزارداسې و

داسې هم وشول چې وطن راته سور اور شو يو وار

او دا دی راغلم ورنه لرې تر آخر د دنیا

نور وړاندې ځای نه شته دی

چې بل قدم واخلمه، لرې ولاړشم

راته د لمر سترګه نږدې ښکاري

زه د لمر سترګې آيينه کې خپلې سترګې ګورم

زه يې ښه وينمه چې

لکه دروغ يو لغات

بې اعتباره ويی

ټولې هنداري تشې ښکاري

او مخ ښکته ګوري

او نور څه پاتې نه وي

چې خپل مخ چا ته ورښکاره غوندې کړي

۲۰۰۰/۱۲/۲۶
فریدریکس هاون
ډانمارک

# نور پسرلی نه شته

زما د زړه دښته کې
زما د زړه آسمان کې
د غم بې شرم درانه پیټي سره
د ټول عالم وریځې را پنډې شولې
په پټه خوله ولاړې
او په ورېځ، ورېځ ژړیږي
زما د زړه په بڼ کې
د زیړي غړ نه شته دی
وچه بیدیا ده کوم شنیلی نه شته دی
باران بنه شړقنده وریږي
خوبیدیا وچه ده
زما ژوندون ژړا ده
اوښکې دي تروشي او بیدیا شګلنه
ونې دي بورې ورارې
او نور بچیان نه راوړي
شنیلی خو هسې نه شته
مځکه شګلنه مروره پرته
په درانه خوب نه ده ویده
په درانه غم ناسته ده
او هیڅ باران یې خوښولای نه شي
پخلا کولای نه شي

۲۰۰۰/۱۲/۲۸
فریدریکس هاون
ډانمارک

# ولـيکه!

## دا بله زوکړه ولیکه!

تورو غولونکو د فریب تورو
ما ته مو بیا څه راکړل
ځو اوښکي قلم نه چې را پریوتې
هغه د تیارو، وزرو پناه کړلي
اوس نو زما هیله ده چې ولیکه!
ولیکه!
هیله کوم، ولیکه!
ډله، ډله وژني انسانان
هغه هم ولیکه!
سوځي چې کلان
هغه هم ولیکه!
پرې وني چې لویږي
دا هم ولیکه!
شني، شني کروندې چې بیا وچیږي
دا هم ولیکه!
بیا چې ګودرونه را ړندیږي
دا هم ولیکه!
هلته چې نارې د اتڼ ستونو کې بندیږي

دا هم وليکه!

بيا د کلي پولو کې ويلنی چې ورکيږي

دا هم وليکه!

غنې چې په ځالو کې سوځيږي

دا هم وليکه!

دلته د ځوانانو قتلِ عام دی

دا هم وليکه!

خوښي خو ورکه، ورکه

بې شرم غم چې بيا راځي

موږ کړوي

دغه هم وليکه!

وليکه!

هر څه وليکه!

زموږ د کلي په باغچو کې

د هندارو بڼ کې

شنو خاطراتو تصاوير په تتيدو وليکه!

هلته مخ وړاندې، غره لمن کې

د شنيليـو ځنازې وليکه!

بيا د باغچې ذهن ته پام کړه

چې ورنه تښتي هغه شنه خاطرات

او...

خو هير دې نه شي، نه شي

چې بله زوکړه يې په مخ کې وينم!!!

۲۰۰۱/۰۱/۲۰
فريدريکس هاون
ډانمارک

# غمجنې سترګې

شپه ده توره شپه ده څراغ نه شته

ښار کې یو غږ نه شته دی

په ټوله ورځ کې یوه چیغه نه وې

لکه ښه توره یوه شپه بې ستورو

زړه مې یوازې ناست دی

لار مې مالومه ده

خو پښې مې ستړې

او ستړی زړه مې

د دردو د داستانونو پاڼې

سره را اړوې بیا

او د بریاوو پخوانۍ سندرې

ورانو کوڅو کې لټوې او ګورې

نمجنې سترګې بیا نمجنې شولې

او د راتلونکې برې لار لمدوې

۲۰۰۱/۰۴/۱۸
فریدریکس هاون
ډانمارک

# تورې مځکې او شنې پاڼې

تورو مځکو!

تورو مځکو!

ما به وخورئ،

ما به وخورئ

او شنو پاڼو!

او شنو پاڼو!

ما به ورولئ ژوندون ته

۱۹۹۲/۰۵/۲۷
ماسکو
روسیه

# ګلزار او اور

زه دې منزل یم آشنا

خو ته!

ته رانه لرې ځپه

ته تریدلې هوسۍ

ته رانه ورکه زانه

او د کارتوسو بارانه ته ناسته

د مرګ استازو نه ځان ساتې

او کارتوسو ته تېز نیسې نن

د اور وطن کې راته شپې تیروې

زه درنه لرې په بنو کې

خلیل شوی یم په اور کې ولاړ

او ننداره د دغې لوبې کوم

۱۳۷۱/۰۲/۰۸

# سپیده داغ

ما سپیده داغ ولیده

چې سرګردانه سا نیولی

د تیارې ګریوان ورخیرې کړلو

بیا په بې لارو، لارو سرشو

او هغه خلک یې پوښتل چې هغوی

تور یې ویل تور یې کول

بل څه یې نه درلودل

خو سپیده داغ په ټینګار

د نا آشنا کلي آدرس غوښته بیا

۲۰۰۱/۰۴/۱۸
فریدریکس هاون
ډانمارک

# ودې نه پېژاندم

ته دې د خیال د صند وق ور پرانیزه

او ما درياد کړه

ډیر، ډیر دردونه یاد کړه

ژاړوې یادې کړه

ویرونه یاد کړه

آغه د میني او خندا ښه تصویرونه یاد کړه

ښه راته وګوره، ښه سوچ وکړه

ودې لید م، ودې لید م

ودې نه پیژاندم...

۲۰۰۱/۰۴/۲۷
فریدریکس هاون
ډانمارک

# وطن

وطنه وسوې، وسوې

او يوړې، يوړې

اوبو يوړې

او اورونو، سره وسيځلې

خو زه

چې وخت يې راشي نو بيا

له اوبو وچ به درشم

په اور ناسوی درځم

۲۰۰۵/۱۲/۲۰
هيدرسليف
ډانمارک

# کله چې درشم آشنا

ګوره چې تږی بلبل

کله ګلزار ته درومي

داسې به درشم آشنا

ته به ګلزار

زه به بلبل

وطن به اور وي که ګل؟

خو زه درځم

لکه بلبل چې خپل ګلزار ته درمي

دغه ګلزار که وي سور اور

که وي ګلزار

زه به درځمه

خپل ګلزار

او خپل چمن ته آشنا

۱۳۷۱/۰۳/۱۲
تاشکند
اوزبکستان

# لاړې*

**مورته مې!**
**چې هر ځلې په اوږده سفر ورنه جدا شوی يم،**
**خوله به يې له خندا ډکه او سترګې**
**به يې لمدې وې.**

لاړې لمر سپوږمی شوې آسمانو ته رانه وختې

لاړلې بل لور ته

زما زړه کې غوټۍ شولې

ښکلی شولې

مينه شوې

زما د زړه پولی شولې

لاړې پسرلی شوې

او زه منی شوم

لاړلې

زه خړ شومه

د مني ژيړه پاڼه شوم

لاړې ته شنه پاڼه

سره غوټۍ شولې

پاتې شومه زه او ښکته پريوتم

لاړې نوراني شوې لمر ته وختې

لاړم ښکته پریوتم تورتم شومه

لاړې ران زانه شولې والوتې

لاړې شین آسمان ته

شنو اوبو ته

هسک ته وختې

لاړې پورته والوتې وحشي شولې

خو دلته ته ځایي شولې

لاړې دلته پاتې شوې

زما سره

تل پاتې ابدي شولې

۱۳۷۲/۰۲/۳۱
کابل

---

*په دې ورځ زه د خپلې کورنۍ له نهو تنوغړو سره جبراً پاکستان ته مهاجر شوم.

*******

******

*****

****

***

**

*

# تاند غمونه

څه يادونه څه کليزې دې ژوندی راپادوي
تاند غمونه دې بيا ژر، ژر آ مرګی را يادوي
ته زما د عمر خوښي
ته زما د ژوند پسرلی
ته!
ته لاړې، لاړې، لاړې
لاړې تک ژير منی شوې
پريوتلي ښکته ژيړه پاڼه شوی
خو اوس،
ستړی ژوند او تاند دردونه
اوږده لار ستړي غمونه
څه يادونه څه کليزې دې ژوندی راپادوي
يو څو اوښکې سرې، سرې ستړګې دې مرګی راپا دوي

۱۳۷۲/۱۰/۰۳
ماسکو
روسيه

*******

******

*****

****

***

**

*

# ور مه راوهئ!

زه خپله نه يم

زه يو بل څوک يمه

زه کور کې نه يمه

ورمه راوهئ

ما چې ښه ويلي، تا ته بد ښکاريده

ما چې رښتيا وې، تا دروغ ګڼلو

زه خپله، خپل وم، خو تا نه منله

نو اوس:

زه خپله نه يم

دا پردي غرېږي

پردي بادونه

څه اورني غرېږي

پردي دي خلک

او څه پردي غرېږي

پردي وختونه

بيا اورني غرېږي

خپل، خپل دي خلک

خو څه پردي غرېږي

خپل ارمانونه

څه دښمني لرېږي

زه خپله نه يم

زه يو بل څوک يمه

زه کور کې نه يمه

ورمه راوهئ

۱۹۹۲
ماسکو

# ستا به يادېږي كه نه!

ستا به يادېږي
چې له باده سره
ونو او څانګو نخل
ستا به يادېږي
چې خوړ به مست و
ستا به يادېږي
چې وياله ډكه
پاكو اوبو نه
رنې رواني او كلى شين و
ستا به يادېږي
چې زموږ د كلي
ځوانان به راغله
او په يو خرپ به اتڼ روان شو
ستا به يادېږي
چې كليوال به
هر خوا روان وو

خندا خوښي وه

غم بيګانه و

اوس هغه نه شته

د هغو ټولو قاتلين راغلي

خندا،

اتڼ،

شنيلی،

خوښـي،

دا ټول مړه شوي

او کليوال زوړند سرونه

ليونـي روان دي

۲۰۱۱/۰۲/۰۵
هيدرسليف
ډانمارک

*******

******

*****

****

***

**

*

# د ۱۳۷۸ کال پسرلي ته

ځو پسرلي دي چې دې لار څارمه
راشه چې لارپه ورکيدو ښکاري
په زير زبيښلي بڼه
ځو پسرلي دي چې پوښتنه کوم
پسرلی چيرې تللی؟
ترخه خندا کې يو بوډا وويل:
ځان دې لړ پوه کړه ګله!
سپرلی وختي لا مړ دی
او د سپرلي ځنازه
ځو توتکيو د بادو په وزرو
چيرته کې لرې
په پردي وطن کې
خاورو ته وسپارله
ځو پسرلي دي چې دې لار څارمه
راشه چې لار په ورکيدو ښکاري

۱۳۷۷/۱۲/۲۹
ماسکو
روسيه

# ته به اوس څه ولیکې

ستا د غومبورو

دغوچوړو

سرسپارلی یوسف

یوازې زه یمه، زه

د بد نامو

تور داغو له پاره

توره تخته

او سپینه دړه یمه

ته مې قلم او قسمت

چې اوس هر څه پرې لیکې،

لیکه یې نور...

۱۹۹۴/۰۳/۰۵
ماسکو
روسیه

# سجدې

سجدې مې حسن ته دي

نه تش بُتونو ته نور

وروځې محراب

سترګې ا مام دي راته

زه مقتدي یمه

سجدې کومه

سجدې مې حسن ته دي

نه تش بُتونوته نور

۲۰۰۱/۰۳/۰۳
فریدریکس هاون
ډانمارک

# وژاړم که وخاندم

د ترحم سپین الوتونکي راځي

د روح آسمان کې مې وزرې وهي

او زما د ذهن بچیان

شنې کروندې ته بیایي

د شعر وزر خوځیږي

پټې منګولې یې راځي زما پر لور

او زما د ذهن د کلا دا زنګ وهلی ځنځیر

په ښکلو ګوتو شرنګوي په څو ځل

راویښوي مې درانه خوبه ځینې

خټې مې غوږې کاندي

هلته اتڼ ته دوییونو مې وربولي پسې

بیا مې څو ځلې راکش کاږي د اتڼ لیکې ته

زه یې ښه ګورم چې ما آزمیي بیا

او د خندا ژړا پر ګډه پوله

لکه حیران مې ودروي

زه خټې غورځومه

اوړم را اوړم د اتڼ لیکه کې

ځان سره سوچ کومه

چې د ژړا که د خندا شیبه ده؟

۲۰۰۱/۰۲/۲۰
فریدریکس هاون
ډنمارک

# خلوریزه

د پښتنو د ملتو زور د ماغزو شور مې خوښ شو
په ننګ ودان، په ننګ ولاړ، د دوی دا کور مې خوښ شو

هر چې دښمن ته غاړه کیږدي، نو پیغور یې مرګ دی
د دوی د کلو، د کېږد یو دا پیغورمې خوښ شو

# ساز

## (د راویشنکر د مرګ په پار)

موږ په ساز پسې راغلي، ساز پسې ګرځوو
ښکلي ساز کې مو په سازګډوه بیا

یا موپرېږده چې په خوند ساز پسې ګرځو
یا مو ښکلي ساز څپو کې واخله سا

۲۰۱۲/۱۲/۱۲
هیدرسلیف
ډنمارک

# له بخارۍ نه ساړه او له زخمونه ګلان

## (د فريد باراني يو شعر او زما تأثر)

له بخارۍ نه چې ساړه څخیږي
نو له تیږونو نه خندا را څخیدلای نه شي؟
دغه ما نه،
دا بل چا نه،
دغه روهي راته ټولګي کې ویلي:
«دغه وطن د استثنا وطن دی
دلته هر څه هره شیبه کې پیښیدلای هم شي»
دلته لاسونه او سرونه،
پښې اورمیږونه ریبیدلای هم شي
«دغه وطن د استثنا وطن دی
دلته هر څه هره شیبه کې پیښیدلای هم شي»
دا هغه ښار دی چې ښاریان یې رنځوران دي او روغتون نه لري
دلته کیدای شي انسانانو نه ماران وزیږي
داسې اوه سري ماران
چې په اویاوو خواوو خولې اچوي
دغه ماران زموږ مشران دي، کندوالـو باندې حکمونه کوي
داسې مشران چې قدمو ته یې زلمي وینې تویږي او دوی خاندي ورته
او پرې د پاسه قدمونه ایږدي
«دغه وطن د استثنا وطن دی
دلته هر څه هره شیبه کې پیښیدلای هم شي»
دلته کیدای شي بخارۍ نه ساړه وڅخیږي
دلته کیدای شي له زخمو نه ګلان وزیږي.

د۲۰۱۴ کال د جولای یوویشتمه
هیدرسلیف، ډنمارک

# پاسپورت

زما د ټولنې د سانسور منګولې

زما د شنه ذهن په بڼ کې ښې را خښې دي نن

زما د ذهن تاندو څانګو سره

مرګونې لوبې کوي

او د نيستی د دايرې ښکلې پاسپورت ورکوي.

۲۰۱۴/۰۸/۱۶
هيدرسليف،
ډنمارک

# که دې په کار وي کرکه...

## يو شعر، يوه خاطره

په ۱۳۵۵ل کال مې د کانکور آزمويني له برياليتوب نه وروسته، د کابل پوهنتون ادبياتو پوهنځي کې خپلې زدکړې پيل کړې. په دې وخت کې زموږ په هيواد افغانستان کې د تلويزيون او ټرن په باب څه ويل هسې د خيال خبرې،يا لکه د چا خبره يو خيال پلو و او بس.
موږ څو تنه هم صنفيان او همدوره محصلين وو چې کله به د تفريح په وخت او کله به هم په کوم بل فارغ وخت کې سره کيناستو او لکه د چا خبره بنډار به مو کاوه. د همدې بنډارونو په لړکې يوه ورځ خبره په ترقي او پرمختګ باندې ياده شوه. کوم يوه غږ وکړ چې دا دی سردار صاحب لګيا دی تلويزيون جوړوي. بل په کې وويل چې هلکه «غريب سړی، برګ يې سپی» موږ تلويزيون څه کوو، خلک د خوراک ډوډۍ، نه لري، سردار صاحب تلويزيون ورته جوړوي.
په دې کې له کومې بلې خوا زموږ يو هم صنفي چې روح الله نوميده او د کنړونو اوسيدونکی و، ډېر ځيرک او ښه با مطالعې هلک و، غاړه تازه کړه او په جدي ډول يې داسې وويل:
«ګورئ انډيوالانو! پرتولنه اوټولنيز ژوند او خلکوباندې خبرې کول، د ټوکو خبرې نه دي. که لوږه ده، که هرڅه ده، سردار صاحب ډېر نيک اقدام کړی دی او...»
روح الله خپلې خبرې پسې اوږدې کړې. خبرې يې ډېرې علمي او ښې خبرې وې، خو د ټولو خبرو شيره يې په دې جمله کې سره راغونډه کړه:
«يو وطن چې تلويزيون او ټرن ونه لري، داسې به وي لکه يو انسان چې پينې او سترګې ونه لري.»
د سردارصاحب هڅې بريالی شوې او۱۳۵۷ ل کال په پسرلي کې افغانستان ته خدای يوه سترګه يعني تلويزيون ورکړ. له هغه وخت نه اوس لږ او ډېر شپږديرش کاله تيرډي او خدای د هغو سترګو شمير له پنځوسو هم اړولی دی، خو له بده مرغه چې موږ افغانان بل ځای څه چې خپله مخه او خپله لاره هم نه شو ليدلای.
په هر صورت د تلويزيون د خپرونو له پيل سره زموږ کورته هم، زموږ د کورنی کوم لالا يو پايه روسی کريم (krim) تلويزيون راوړ. دا تلويزيون ښه ډبل او داسې غټ و چې په ليدو يې سرې ويلای شول چې:

« د بختورسړي به غټ تلويزيون وينه ».
دا پديده لالا تر يوه ځايه په ټکسي کې او وروسته په لاسي کراچۍ کې د کور انګړ ته راورساوه. کوټې ته مو په څلور تنو ننيست او«په بسم الله قدم راواخله» په ويلو سره مو په ډير احتياط د کوټې په يوه کنج کې ځاى پرځاى کړ.
دا نوې پديده به اول په عذر چالانيده، يعني دا چې زموږ د کلي برق دومره ضعيف و چې دې پديدې ته يې انرژي نه شوه رسولاى. دې کې د کورنۍ کوم غړي غږ وکړ چې:
« زر په لالي پورې، دا شل يې د بنګړو»
بيا د برق د تقويې وړوکى ماشين را پيدا شو، کله چې تلويزيون ته روزي پوره ور ورسيده، نو بيا به په غومبس لګيده. داسې وخت هم راغى چې تر ځو به چا په سوک ونه واهه، نه به لګيده.
زه هم لکه کريم روسى تلويزيون، د فيسبوک لوستلو ته، د ګڼو دلايلو له مخې ډير زړه نه ښه کوم؛ خو آغه بله ورځ لکه روسى تلويزيون چا په سوک د مخکتاب لوستلو ته اړايستلم. کله مې چې مخکتاب پرانست، د همايون خان نومي سندرغاړي په غږ کې دوې خوږې سندرې، د هادي هادي او فاروق فردا يو، يو شعر، د لطيف لالا دوو لنډو شعري ژباړو لږ څه سره مصرف کړم ، خو بيا له يوې غوښتنې يا پوښتنې سره مخ شوم. ښاغلي نور محمد لاهو يا له تنګ زړه نه، يا په ټوکو او يا هم په رښتيا مينه ورکه کړې او د کرکې په ازغنه صحرا کې د مينې ګدايى کوي او مينه داسې ورنه ورکه ده چې اوس يې لا په پورغواړي:
«يو څوک شته چې ما ته مينه په پور راکړي؟»
د لاهو صاحب ځواب به د هرچا د نظر، تجربې او سترګو ليدلې حال له مخې فرق سره کوي. ما خپل ځواب د يوه شعر په قالب کې ورته ليکلى دى.

له عنوان سره سم پاس يوه خاطره او دا هم شعر:

# که دې په کار وي کرکه

دلته د کرکې زړى شين شو

مينه والوتله لاړه مهاجره شوله

زه هم پښې پيلې تلې

له خپل ګودر،کلي اوکوره ځيني

پسې راوتلى يمه

دا دى داشل پسرلي

په شلوکلوپسې وګرځيدم

د ورکې مينې پته

خوشې له لرې چا راونه ښوده

هسې مې نښه هم ترسترګونه شوه

چې مې زهيرې او اوښلنې سترګې

لږڅه راوچې شي بيا

مېنه اوکلی مې دبل تر ولکې

زما پټکی غاړه کې پروت

اوله دردمنې ملامې

یوه ریبنکۍ راتاو ده

دشعرکچکول مې را ترغاړې ګرځم

دخپلوتوروسترګوخیرمې

له شین سترګوغواړم

بل څوک څه نه راکوي

تنها دخدا پربنتې

دشعرپه مات کچکول کې

دشعرڅو وللي توري

کله را وغورځوي

خوزما سترګې لټوي آ مروره مینه

پښوکې مې نور وس نه شته

چې په لټون پسې یې

کوم بل تکل وکړمه

دغه وروستی ټکی دی

ددنیا پای ته رسیدلی یمه

ښایي لږ وړاندې دخدای کلی وي بس

او...

که دې په کاروي کرکه

نوکابل جان ته لاړشه!

افغانستان ته لاړشه!

۲۰۱۴/۰۱/۰۲
هیدرسلیف
دنمارک

# مباح الدم؟؟؟

د مني زيړي او سرې پاڼې سره ګډې ناځي

رنګ مې تک زیړ دی لکه زيړه پاڼه

د ونو سرو پاڼو ته ګورې

زړه مې داسې سور دی

لکه حلال يو پسه

چې له پرې کړي ستوني

هر څاڅکي وينې سره

پاس خدای ته غږ هم کوي

خو بنده ګوري ورته

خاندي ورته

په لوړ آواز «الله اکبر» هم وايي

زما د مظلومو کليوالو وينه

دا دی ځو ديرش کاله پوره شول

چې حلاله ګڼل کيږي او تويږي پسې

الله اکبر هم ويل کيږي پسې

او انسانان مباح الدم هم ګڼل کيږي پسې

۲۰۱۴،۰۶،۱۹
هيدر سليف
دنمارک

# وينو کې ولمباوه،
## په اور کې وسوځاوه

زه به دا خپل زړګي ته

ستا په نه شتون کې اور ور واچومه

زه به دا خپل زړګی له خپل کوره راوباسمه

داسې بې سور کړمه په خپلو وينو

لکه ناراضه پسه

د قربانۍ په ورځې

زه به دا خپل زړګي ته

ستا په نه شتون کې اور ور واچومه

داسې بې وسوځوم

لکه افغان يو وطن

لږ څه پردو

او ډير هم خپلو بچو

وينو کې ولمباوه

په اور کې وسو ځاوه

۲۰۱۴/۰۹/۱۱
هيدرسليف
دنمارک

# بې له نېټې، بې پتې

بې له نیټې، بې پتې

تا پسې چغې وهم...

غږ کومه...

چیرې یې ته ؟؟؟

کوم یو ځواب نه اورم

یوازیتوب او سکوت

په رسا ژبه راته وایي چې یو سپن هم نه شته

بیرته راتګ خو دې بیا

لکه چې ونه شولو

بې له نیټې، بې پتې



# زما حجرې ته ميلمانه راغلي

د يوې لويې فرهنګي غونډې د تفريح په مهال يو پخوانى يار راسره ملګرى شو. له جوړ تازه نه يې وروسته پوښتنه رانه وکړه چې:
چيرې چې اوسيږې، شا و خوا دې نور څوک شته چې په خبرو سره پوه شئ، د زړه خواله سره وکړئ او ګپ شپ مو کله، کله سره برابر وي؟
ما ورته په خندا وويل: هم و، هم نه. هغه هم په خندا وپوښتلم چې څنګه هم و او هم نه؟
د غونډې مسولينو د تفريح پاى او د غونډې بيا پيل غږ وکړ. د هغه يار پوښتنه بې ځوابه پاتې شوه. دا دى د هغه يار ځواب مې د يوه شعر ګوټي په قالب کې ليکلى دى، تاسو يې هم ولولئ:

## ياره!

په کوم کلي کې چې زه ديره يم، دومره افغانان نه شته. هغه چې دي هم، يا د خيټې دي يا د...
په يخچال او فريزر کې د اتيا کيلو غوښې په لرلو هر کله وياړي او يادوي يې هم، خو په کور کې په خپلې مورنى ژبې د يوه کتاب په نه لرلو هيڅ کله نه شرميږي.
هغوى په پښتو او دري ژبو باندې مکالمه کولاى شي، خو زه ورسره ګډه ژبه نه شم پيدا کولاى.
ما هم د خپل کور په يوه څنډه کې يوه فرهنګي حجره جوړه کړې ده، هغه ياران او دوستان چې په مخه راغلي دي، ټول مې راټول کړي، هره ورځ، لا هر ساعت دزړه خواله او بنډار ورسره کوم، کله کله يادګاري عکسونه هم ورسره اخلم. تاسو يې هم ښايي وپيژنئ، بيا يې هم يو، يو در پيژنم:



# زما حجرې ته ميلمانه راغلي

## لومړی برخه

دلته يوازې وم،

تنها ومه زه

نه مې همدم و، نه همراز و

بس يوازې ومه

ما وې چې څه ياران پيدا کړه درته رايې وله

چې هر خوا لاړمه

هيڅوک راسره مل نه شولو

ما وې راځه آ پخواني ياران راوبله نن

نه کرايه، نه هم ويزه، نه هم کوټه غواړي دوی

نه کوم يو بل څه، نه ډوډی او نه توښه غواړي دوی

ما هم سفر وکړو د خپلې ککرۍ خراب آباد کلي ته

نا څاپه مخ شومه له څو تنو مشرانو او يارانو سره

حال مې پوښته د هغو نورو

چې آ، نور چيرې دي؟

چا به خندل، چا به ژړل، څه به يې نه ويـيلي

زه ومه خوښ او خوښيدمه پسې

راسره مخ چې شول نو ومې ويل:

راځئ راځئ

په خير راغلئ او هر کله راشئ

عجيبه پيښه وه دا:

ټولو نه مخکې مې امين ملنګ جان کور ته راووست

ښه په عزت مې بر سر کينولو

نور مو څه ونه ويل

ځو ورځې وروسته خوشال خان خپله ور ووهلو
چې مې کاته له سپینې ږیرې سره دنګ ولاړ و
سترګې اوښلنې ښه په ځیر یې کتل
په سترې غږ یې ویل:
بچیه! سترې یم دمه کومه،
آصف خان کور دی که نه؟
ما وې راځه بابا دننه راشه
خپله آصف یمه، ستا زوی یمه زه
ملنګ جان ناست دی انتظار دې کوي
چې خوشال خان او ملنګ جان راغللو
ما وې چې ټول جهان لرمه کور کې
وروسته بیا نور عزیزان راغلل
او دیره یې راته ښکلې کړله
او اوس یوازې نه یم
ما سره خپله د فرهنګ دیره کې
ځو تنه ناست دی او یوازې نه یم
له هر یوه سره جلا، جلا خبرې کوم
له هر یوه ځینې یوه نه، ځو پوښتنې کوم
له هر یوه سره هم خاندمه
بیا ژاړمه
د ځو دردو او ځو غمو ورنه احوال غواړمه
زما دیره کې خوشالخان او میرویس خان میلمه دی
بیا یې په څنګ کې مدبر لوی احمد خان کورېه دی
د احمد څنګ کې ځوک راګوري داسې:
ته وا د کوم یرغلګر سترګو ته خنجر ولاړ دی
دغه اکبر ولاړ دی

بیا یې په خوا کې حبیبي له کتابونو سره

ورسره اړخ کې هم پژواک سیاستونو سره

بیا یې په څنګ کې پسرلی له غزلونو سره

او ورنه لاندې فلسفي اسد چُرتونو سره

هلته مجروح چغې وهي او په څو ځلې وايي:

د «ځانځاني ښامار» مو ونه چیچي

خدای نه راغلي د کلام، هم یو بلبل راغلی

د فاتحې سورت یوه سا باندې داسې وايي

ته وا دا مځکه و آسمان غوږ دي ورته

خوا کې یې زموږ د کلي لمر په غر غړ

دا به غروب زموږ د بخت خو نه وي؟

بل خوا روهي او غني ناست دي له رَشاده سره

ته وا زړې غوټې راسپړي او بحثونه کوي

او مدبر شفیق چُرتونه وهي

رحمان صوفي یو کنج کې ناست دی او هیڅ غم نه کوي

ټولو ته ګوري ورته لاربښې ماتم نه کوي

روحاني لاندې خپلو سرو وینو کې ګوتې وهي

د خپلو توی وینو داغونه شمیري

ورنه پوښتنه کوي:

ولې؟ دا چا تویې کړې؟

او ورنه لاندې یو څوک ناست دی

محبت سره الفت ته ګوري

لوړو برجو ته خاندي

زیارت دیوو ته ژاړي

لاندې کاروان چنار ته ګوري

او بيا وايي هسې:
ګورئ يارانو دا چنار هم څو خبرې لري
د الفت څنګ کې وچ فنا ناست دی را ګوري موږ ته
زړه کې خبرې
ښې ببرې لري
او دې يارانو ته يوه خبره وايي داسې:
چې دا «ګلپيغله» څه ويل غواړي نن:
«ګلپيغله» ګلو کې پرته ده
خو ژړيږي پسې...
او پاس ملنګ د مينې،
ملنګ د مينې ورته ناست دی
د لنډيو د ګودر له پاسه
کومه ملاله د ملنګ په خوا کې
ټيک يې تندي باندې ځليږي
او نارې وهي بيا:
ټول دي راټول زما بچيان
ورونه، زما بابا ګان
چې ځانځاني و نه کړي
چې بر بادي و نه کړي
ټول وايي، څه وکړو نو؟
د لياقت څيره کوم څنګ کې ناسته
په ټيټ آواز او نرمه ژبه وايي:
«د مينې لار اوږده ده، په ورو ورو به سره ځوو
بې چيغـو، بې ځيګرويو، بې نارو به سره ځوو»

۲-۱۴/۰۹/۱۹
هيدرسليف
ډنمارک

## زما حجرې ته ميلمانه راغلي

### دويمه برخه

دا دی روان يمه بيديا کې

خو سمسوره ده دا

زه د خپل ذهن کوڅو کې ګرځمه آشنا لټوم

څوک بې پروا لټوم

زه مې د خپلې ککرۍ دغه ويجاړ ځلي ته

خراب آباد کلي ته

يوه ورځ نه،

يو ځلې نه،

په څو، څو ځلې سفرونه کوم

ښه اخترونه کوم

هلته هغه کلي کې

«زما د ښار د ديوالونو سيوري مات پراته دي

ځنګه ستومانه، ځنګه ستړي څه ميرات پراته دي...»

د دغو ماتو ديوالونو، ماتو سيورو ته زما آشنايان

په دوو پښو ناست دي او ويرونه کوي

د ديوالونو ماتو سيورو ته کتلای نه شي

ځوک دي ولاړ او په ژړا سترې شول
ځوک ليوني دي په خندا سترې شول
هلته د غم او د ښادۍ کوڅو کې
ګرځم را ګرځمه یاران لټوم
ښه غمخواران لټوم
او راولم يې
دې ديرې
دې ميکدې
او فرهنګي خونې ته
ورته ليمه غوړوم
بيا هم بانه غوړوم
او په خندا ژړا کې
د هغو پاتو ترې پو ښتنه کوم
او د خوښۍ ځپو کې وايمه چې:
بيا مې ديرې ته ميلمانه راغلي
ډير ښه درانه راغلي
په خير راغلئ
ښه راغلاست
لار کې ليمه مې فرش دي
راځئ، راځئ ډيره توده ده خوشال خان راغلی
هم ملنګ جان راغلی
او ورسره دي يو ځو نور عزيزان
دا دي زياتيږي
را روان دي ډير درانه ميلمانه
څه پښتانه ميلمانه

هاغه دی راغی یون په خپله
خپل جدیت سره نن
په لوی قوت سره نن
ما وې راځه په خير راغلې د فرهنګ ديرې ته!
په مروره او نرۍ موسکا يې داسېووې:
زه نه راتلمه، خو ارباب راوستم
ترنګ د رباب راوستم
زه ورته غوږ شومه ټول
او محبت شومه ټول
ده خلاصه غيږ راکړه
په چغو، چغو ی راته ووې:
زه وطن غواړمه
سمسور مې بڼ غواړمه
زه مې بدن غواړمه
هلته يې شا ته کوم يو څوک را روان
يو ښکلی، ښکلی خندان
باز له کتاب او له قلم، له ماشومانوسره
انډيوالانو سره
څنګ ته يې ښکلی دی
اجمل دی
کوم يو اند دی
يو څو اجمل توري يی
خپلې خندا سره ډالی راوړي
او په خندا کې را ته وايي چې دا تور، تور توتان
قربان له تاسو ياران
چې مې کتل شا ته يې:

هلته تراب  دی

ډير خراب دی

د وطن په کنډوالو

خرابيدو

تقسيمدلو باندې چغې وهي

خلک را بولي

ور ته وايي:

زما وطن مه ويشئ،

زما بدن مه ويشئ...

زه ورته ناست يمه او خاندم خوشالي کومه

ځان سره وايم چې حجره کې دا ياران لرمه

نو ټول جهان لرمه

۲۰۱۵/۰۱/۰۸
هيدرسليف
ډنمارک



# د ليونتوب مباركي

فريد باراني په دې کم عمر په خپلو شعرونو کې عجب ښکلي، نوي ترکيبونه او تشبيهات جوړوي او کاروي. ما څه موده پخوا د ده په يو شعر باندې، دې ياد داشت اوشعر ته ورته يوه يادونه او يو شعر خپور کړی و.

http://tolafghan.com/posts/29619

نن (د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر۲۴مه) بيا د مخکتاب د بڼ په يوه څنډه کې د ده يو شعر په مخه راغی. په دې شعر کې هم ما ته ځو نويو انځورونو او نويو ترکيبونه نوې مسکا وکړه. يو ځو يې دا دي:
د ميرِيانو د لښکر حسادت، د سترګو تبسم، د ليونتوب د مبارکۍ غوښتل او ...
باراني په دې شعر کې هم توانيدلی دی چې خپل فکر په نوي انداز سره د نويو او زړو تورو او لغاتو په مرسته د لوستونکو مخ کې کيږدي:

https://www.facebook.com/farid.barani?fref=nf

د باراني دا شعر مې له دې ترکيبونو سره ځو ځلې ولوست، خوند مې ورنه واخيست او ځواب مې يې «د ليونتوب مبارکۍ» باندې ورکړی دی:

# د ليونتوب مباركي

د ليونتوب مباركي خو ما وختي در کړې
خو تا لوستلې نه ده
په دغه بڼ کې چې اوسيږي
جګ غرېږي
او په لوړ آواز سندرې وايي
په داسي خلکو کې چې غوږ نه لري
په رڼو ګوري، کوم يو شی نهويني
ته په کمره ولاړ يې چغې وهې
هغوی خود تا
او تا ته ورته کسان
څه ليونيان
څه با ښاران ګڼي اوس
زه لا په دې هم ښه ډاريږمه
سودا کومه
د حقيقت په دې ويلو دې څوک
لکه منصور غوندې په دار نه کړي
موږه نا چار نه کړي
او بيا به سر وهو بس

د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر ۲۴
هيدرسليف
ډنمارک

# بار مو تږلی و په سپینې ریښکۍ

شیبې

ساتونه

ورځې شپې

میاشتې کلونه

سترګو رپ کې تیر شول،

کله چې ستړي شوو خپګان نه

یو او بل ته مو چې مخ واړاوه

تا زما سر

ما ستا ویښتانو ته په ځیر، ځیر کتل

د سترګو رپ کې سره پوه شوو

چې نا وخته شوله

زما و ستا د ځوانی مست پسرلي

خپل بار تړلی و نور

سپینې ریښکۍ وې ورنه تاو

نور خلاصیدلای نه شوې

۲۰۱۴/۰۴/۲۷
هیدرسلیف
ډنمارک

# بخت

زما د بخت آس قهریدلی دی

روان دی

هيڅ ته هم نه ګوري

داسې روان دی

چې هيڅ لوري ته

کوم ځنګ ته

بله خوا نه ګوري

د قهر شين دود يې له پزې نه آسمان ته رسي

داسې په قهر، چې نه ځان او نه جهان ته ګوري

بس يوه موخه لري:

غواړي خپل ځان بدل کړي

که دی بدل شو،

نو جهان بدل شو

او که دا دواړه نه شول،

بيا خو به دی هم نه وي

۲۰۱۴/۰۶/۱۲
هيدرسليف،
ډنمارک

# ستا د رخصت په ورځې

تا اجازه له ما نه و نه غوښته

غلې روانه وې او نه دې کتل

زه د حسرت اور کې ولاړ لکه خليل

او د کتلو مې په تا پسې لښکر ولاړ و

تا په وروستی شيبه کې

يو وارې پاس وکتل

زما د زړه درزا لړ تيزه شوله

خو نا څاپي په ژړا سر شو

مځکه ولويدله

بيا مې چې پاس وکتل

د تا د سترګو په آينه کې ما باران وليده

۲۰۱۴/۰۶/۱۴
هيدرسليف
ډنمارک

*******

******

*****

****

***

**

*

# د وير وړانګې

ځپې د غم راغللي

د وير لښکر ورسره غلی روان

شاتې د وريځو له کړکيو ښخه

د لمر زريني وړانګې

لګه خنجر زما د سترګو آييني ته راغلې

چيرته ماشوم چې تيږه واخلي او آيينه ماته کړي

د نه راتک خيالونو

زما د زړه شيشه هم ماته کړله

د لمر يوه راغلې وړانګه

دلته لنګه شوله

زما د زړه هرې توټې ښخه يې پاس ځغاستلې

۲۰۱۴/۰۶/۲۰
هيدرسليف
ډنمارک

# ضديت

دلـتـه يـې زړګـی زمـا شـاربـلـی دی
مـا هـم پـه دنيـا کې زړه چـوولی دی

چيرې ځي، په کوم لوري ضديت زموږ
ژنـی د فـکـرو يـې راوژلـی دی

۲۰۱۴/۰۶/۱۲
هيدرسليف،
ډنمارک

# ميلمانه

زما او ستا د مخه ښه په ورځې

کله چې لاړلې، پنا شولې له مخې نه مې

زما د سترګو حويلی لمده شوه

زړه مې نری، نری خوړيده درپسې

زيړو ګلانو ته مې وکتلې

بيا مې ستا لاره،

هغه لاره چې پنا وې پرې ته

له سترګو تيره کړله

خو ته مې ونه ليدې

بيا مې د سترګو بڼ کې

ځو ميلمانه راپښ شول

ما چې د سترګو کيښکودلو سره

نويو راغلو ميلمنو ته هرکلی ويلو

بيا مې د زړه او سترګو بڼ کې ته هم وليدلې

ما مخامخ ستا د دوو سترګو ننداره کوله

ما مخامخ وليدل

چې ستا د سترګو د بڼ

د دروازې زرين ځنځير

ځو ميلمانه شرنګوي

۲۰۱۴/۰۶/۱۴
هيدرسليف
ډنمارک

# زه هيـخ

زموږ د کلي مازديګر کې

زه روان

او ته نه

زه چيرې لاړ شم

بې له تا نه

چې ته نه يې

زه هيخ

۲۰۱۴/۰۵/۰۵
هيدرسليف
ډنمارک

# تړلـى ستونـى

مخ کې مې وير دى

غواړم وژاړم

ژړلى نه شم،

ډير هم ترخه دي

چې يې وايم

خو ويلاى نه شم

دا بې نيتي
بې پتي

# بس لکه دوه مینان

موږه په ګډه سره وږاندې روان

بس لکه دوه مینان

موږه که ژاړو، نو په ګډه ژاړو،

که چیرې خاندو، نو په ګډه خاندو

موږه به بیل نه شو یو بله ځنې

تر څو چې پایو، مخ په وړاندې روان

بس لکه دوه مینان

۲۰۱۴/۰۶/۱۲
هیدرسلیف
ډنمارک

# کلی او خلی

دې نه لرې ور آخوا زمــــوږ کلی دی
هر څه پـه کې شته وو او سپـیڅلی دی

شنــه او ســره دښــنه ورته راغلي دي
تــول یې دي سیځلي، پــاتې خــلی دی

۲۰۱۴/۰۵/۰۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# د زړه حال

پَر غواړم

وزر غواړم

زړه مې شي دروالوزم

درتو وایم...

۲۰۱۷/۰۹/۰۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# راکټونه، خیراتونه

خیرات خواره یو

راکټو ته مو کچکول نیولی

د ژوندون خیر مو له راکټ نه غواړو

موږه یو وږي

سیلاوونو نه فصلونه غواړو

موږه لار ورکي یو

سر سام یو

توپانونو نه آرام غواړو

له خپل دښمن ځیني د سرو ګلونو فصل غواړو

چې لږ مو پام شي نو بیا سره یو

او په وینو کي لیت پیت پراته یو

۲۰۱۴/۰۴/۰۸
هیدر سلیف
ډنمارک

# مات زړګی، د ویر لبنتی

یو زړګی دی
منځ کې مات دی
دواړه ماتې برخې غږ باسي غږیږي
د زړه راز کوي ژړیږي
آخر ورسیږي برید کربنې ته، پای ته
په خندا غاړه غړی شي
انګیري چې کوشیر شوی
بیا چې ګوري ځان آینه کې
آینه په ژړا ژاړي ورته وایي:
چې ټټر کې مو یو داغ دی
ستاسو زړه هم د شیشې دی
او شیشه چې شي لړ ماته، بیا پټری شي
جوړ یې منځ د ویر لبنتی شي

۲۰۱۴/۰۴/۰۸
هیدرسلیف
ډنمارک

# د ګناه ټيکه داران

زموږ د وير سندرې خلاصې نه شوې

زموږ د غم ننداره پای نه لري

تورې لښکرې دي را وستي بل چا

موږه په خپله را شکارلې دي په خپلو غوښو

موږ د ګناه ټيکه داران يو خپله

چې له ګناه نه خلاصيدلای نه شو

موږه د تولې نړی

د ثوابو او اجرو

د عذابو سر لښکر

ګناه ته بس يوازې موږه هست يو

داسې په اجر پسې منډې وهو

ښايي د ګردې نړی

د ګناهونو پيټی

طوق لعنت د دنيا

زموږ په غاړه کې وي

چې د بخشش په تمه

په ثوابونو پسې منډې وهو

او د جنت په هيله

د ژوند دا ښکلې بيړی

جنت ته ورته نړی

موږه په خپله دوزخ کړې ځان ته

۲۰۱۴/۰۴/۰۸
هيدرسليف
ډنمارک

# نوی کال، نوې وینې

## (د سرینا قربانیانو ته)

نوی کال په وینو رنګ دی
خلکو څه مو په کې ووې؟
آغه تیرې هیرې وینې
بیا روانې دي، سرخې ده
خو توپیر یې بس همدومره
چې رګو کې نه بهیږي
په ویالو کې دي روانې
دیوالونه مو سره رنګ دي
او مخونه مو تک تور دي
په لیکلو یې شوو ستړي
قلمو کې مو رنګ وچ شو
او په سترګو کې مو اوښکې
شولې ورکې نه بهیږي
خو دا وینه نه وچیږي
نه خلاصیږي
بس همداسې دي روانې
چې بهیږي او بهیږي

۲۰۱۴/۰۳/۲۱
هیدرسلیف
ډنمارک

# «مرغان دې راشي زما لپو کې دې ځالې وکړي»

## (د سرينا قربانيانو ته)

نه،

نه دې راځي

چې زه شرير يمه

انسان يمه

لمبې بلوم

په خپله لپه

او په غيږه کې مې اور لرمه

مرغان که راشي،

نو وزرې به يې وسوځيږي

۲۰۱۴/۰۳/۲۳
هيدرسليف
ډنمارک

# کلی، اور او جګړه

زموږ د کلي نوم دی اور او جګړه

ښه ده چې رانغللې

و نه سولې

ګني ايرې به ومه

نه به ومه

۲۰۱۴/۰۳/۰۵
هيدرسليف
ډنمارک

# زما زړه نه پيژني

زما دا زړه

سم نيمايي

له ميني ډک

او نيمايي له شعره

او ته زما لکه زړه

چي خپل ځان نه پيژني

ته مينه نه پيژني

ته شعر نه پيژني

زما زړه نه پيژني

۲۰۱۴/۰۹/۱۹
هيدر سليف
ډنمارک

# د رڼا څرک وينمه

لکه يو مات قهرمان

داسي ملا ماتی زه يم

شا ته د لمر د پريوتو منظره

مخکي د لمر د را ختو څرک نه شته

نه وړاندې وروسته څه اميد څه هيله

هر خوا تيارې خورې دي

خو دې تيارو کي هم اميد لرمه

او ما د خپل ذهن نمجنه کرونده کي

او د زړه بڼ کي مي

کوم وخت کرلي د رڼا زړي دي

اوس هم د ستني له واړه سوري نه

د رڼا څرک وينمه

۲۰۱۴/۰۹/۱۱
هيدرسليف
ډنمارک

# د سانسور زولنې

د دوو مېينو منځ کې
څه نا ويلي توري
د سترګو جنګ کې سره وويل شول
دا نوی نسل يې مسيژ بولي
خو تير نسل يې
د سترګو جنګ بولي او وايي پسې:
زموږ د مينې کيسې پاتې شولې
او د تولنې د سانسور زولنې
زموږ د نسل په نصيب دي او بس

۲۵/۱۰/۲۰۱۴
هيدرسليف
ډنمارک

# مات زړه

زما زړه مات دی،
ټولولی يې شئ؟
هرې ټوټې نه يې غږونه خيژي
چغې سورې خيژي آهونه خيژي
چا ته بيا، بيا غږ کوي:
که شيشه ماته شي
نو بله راځي
که زړګی مات شي،
نو به څه راوړل شي؟؟؟

۰۹/۱۰/۲۰۱۴
کييف
اوکراين

# پر چړو باندې ختل دي

جګړه څه ده؟

بل څه نه ده

ژوند کول دي

ژوند کول دي

پر چړو باندې ختل دي

قتلول دي

او د وینو تویول دي

شا ته یو وارې کتل دي

وړاندې تلل دي

بریدل او ماتیدل دي

خانیدل دي

خواریدل دي

خندیدل او ژړیدل دي

شا ته یو وارې کتل دي

وړاندې تلل دي

څوک په یو رنګ

څوک په بل رنګ

پر چړو باندې ختل دي

ژوند کول دي

ژوند کول دي

بریدل او ماتیدل دي

۰۵/۱۰/۲۰۱۴
کییف
اوکراین

# خـــامو تمو تــباه کــړی

زه یــو یاد یـم اوبــو وللی
او څو تـوري، بـادو وړی

ستا په هـیله سـترګې پـټې
خـــامــو تمـو تــباه کــړی

۲۰۱۵/۰۹/۱۹
هیدرسلیف
ډنمارک

# په ګونډو یې کـړلو

په پښو ولاړ وو په ګونډو یې کـړلو
مخ ته روان وو په شا تلو یې کـړلو

څو به پاس ګورو ډکو سترګو سره
سیالۍ ته ګډ وو په وتــو یې کړلــو

۲۰۱۵/۰۹/۱۹
هیدرسلیف
ډنمارک

# د مني باد

لغړې ونې،

ودانۍ هم لوڅه،

تور سپين اوره پرې ګرځېدل

لکه اتڼ چې کوي

د مني باد

نرم شکيلي کې ويل:

ژمی ماما  شين له خندا را روان

نرۍ کوڅه کې مخ پر ځوړ،

دوه مينان وو روان.

د ودانۍ تيارو کوټو نه،

غمازامو کتل

کتو، کتو کې يې څه ويلو سره

کوم ګونګوسی هم کاوه

خو مينان وو لاس تر لاسه مخ پر وړاندې روان

ته وا د هيڅ چا څه يې نه اوريدل

د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر دولسمه
هيدر سليف
ډنمارک

# خيالونه، زيارتونه

ستا د خيالونو

او يادونو نه زيارت مې و جوړ

مه يې پوښته

چې چا او چيرې څنګه

هغه را وران کړ او زه،

دا دی ملنګ د دوهئ

ايرو او خاورو باندې ناست يم

هر څه لوټ او تالان

زه په دوه لارې، څلور لارې کې نه،

زه څلويښت لار کې ولاړ

هر څه مې هير

لوری موندلای نه شم

تا يادولای نه شم

۲۰۱۵/۱۰/۲۸
هيدرسليف
ډنمارک

# زما ځواني

زه سور کـافـر،شیـن مسلمان وخوړم
بس زه غـمـونـو د انـسـان وخـوړم

دی سر تمبه او مخ پر وړاندې روان
مـخ تـه مې ایـښې یـو ارمـان وخوړم

د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۳۰ مه
هیدرسلیف
ډنمارک

# لکه همدلته مې چې کور شولو نور

ستا له کوڅې نه مې زیارت جوړ کړی
ستا هـر قـدم نـــه عـبـادت جـوړ کړی

لکه هـمـدلـتـه مې چې کـور شولو نور
ستا هـرې سا نـه اطـاعـت جـوړ کړی

۲۰۱۴/۰۹/۲۵
هیدرسلیف،
ډنمارک

# مه ځه!

تا ته درتلم

او په سل ځلې مې غوښتل

چې مخامخ د تاسې کلي ته در والوزمه

در الوتم،

خو وزر سوی ومه

زما وزر د جګړې کرکې لا پخوا سوی و

در الوتم

خو وزر سوی ومه

در رسیدلای نه شوم

زړه مې هم لوی و

هم له مینې ډک و

خو چا په مینې

او چا کرکې باندې

سم نیمایي منځ کې بیل کړی و بس

دا سوی زړه

نیمایي زړه

څومره چې تا سره و

هومره د کلي کنډوالو کې

سر ګردان او په ژړاوو سر و

د کلي مینې په ژړا ور ته ویل چې مه ځه!

۲۰۱۴/۰۹/۲۹
هیدرسلیف
ډنمارک

# بې تا تیاره ده را ته

پردي وطن کې مې چې روح سترى شي
ستا د خوږو سترګو شیرینه مستي
ستا د موسکا هغه ببیاکه څپې
ستا د اندام د هر یو غړي ادا
د تګ په وخت کې دې د تیو ګډا
او بیرته شا ته کتل
تورو تیارو کوڅو، ډیوې بلوي
او ستړي روح ته مې دمه راکوي
چیرته یم لرې په پردي وطن کې
بې تا تیاره ده را ته

۲۰۱۴/۰۹/۲۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# د قدم ګرد

چې د قدم ګرد دې زما د زړه په وره پاتې دى
ښکلى یو تت شانتې انځور دې لا پر زړه پاتې دى

چا تې ښودى نه شم، ورانیږي احتیاط کومه
بل د نظر دې ژور تپ پر لړمانه پاتې دى

۲۰۱۵/۱۱/۰۶
هیدرسلف،
ډنمارک

## دغه تقدير، دغه عالم بدلوم

دا دى نـــن زه هـم خپل عـالـم بدلوم
دا خپـل تـقديـر او خپل كـالـم بـدلوم

مينه بــه نــه كړم لـه ټــوپک سره زه
د ټـوپــک څوکــه پــه قـلـم بـدلـــوم

ځـان بـــه عـادت كـړمـه لـه علمه سره
زه بـه پـه ګـلو هـــر يــو بــم بـدلوم

درد مـــو ګـاللـى دى عـمـرونــه شـولو
نــور بــــه دردونـــه او الـــم بـــدلوم

بـس دى زړو پسې شوې مـنـدې ډيـرې
اوس بــــه ژړا او دا مـــاتـــم بدلـــوم

جـنـده مې جګـه كـړه تـوكل پـه الله
پــه ګـل غـنـچـو بـانـدې دا بـم بدلوم

كه مې و نه شو كړاى نو خاورې به شم
چــې بـريالـى نـــه شـوم قسم بدلـوم

دُښـمـنى ډيـرې شـولې بس بـه يې كړو
نـــور پـــه خـوښـيـو بـــه دا غم بدلوم

۲۰۱۴/۰۹/۲۵
هيدرسليف
ډنمارک

## د هادي، هادي خوب

د ۲۰۱۶ كال د جنورې په ۲۱ مه هادى هادي په خپله فيسبوک پاڼه كې «د خوب او وينې تر منځ» ترسرليک لاندې يو شعر پوست كړ، ما يې په ځواب كې دا دوه بيته ور ته وليكل:

پـــه رنـو خـوب دې وليد
آزمون كې سوب دې وليد

خداى دې دا لوبه ښه كړه
رب دې دا سوبـه ښه كړه

۲۰۱۶/۰۱/۲۱
هيدرسليف
ډنمارک

# حجریان

## د رخشانې سنګسار؟

راشئ يو بل داغ پر خپل روح او خپل تندي ومنئ
داغ مـو پـر ږيره، عقیدو، غم او ښادي ومنئ

تاسو د تیږو پــه دوران کې يئ او تیږې ولئ
تــاسو حـجر يئ، لـه حجر سره دوستي ومنئ

۲۰۱۵/۱۱/۰۵
هیدرسلیف،
ډنمارک

# مازدیګر

دا لمر لويده

او زه يوازې

ته، نه

راشه زړه خواله وکړو

ژوند مازديګر دی،

نه دريږي او ځي

۲۰۱۵/۱۱/۰۶
هیدرسلیف
ډنمارک

# «زه به نه لیونی کیږم؟»

د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ په لسم مازدیګر مې د فیسبوک په بڼ کې چکر واهه چې د ښه شاعر او خوږ غږي سندر غاړي، عیسی بهرام له لوري پر یوې آنلاین کړې ویډیو ور پیښ شوم. په ویډیو کې ښاغلي بخت زاده دانش د شعر لوستلو په حال کې لیدل کیږي.
په شعر کې یو دنیا حقایق ویل کیږي، پر ښېنتې تولنې باندې هغه حاکمې نا دودې ویل کیږي، چې همدا خلک یې په یوه تنګه دایره کې را ایسار کړي دي. چې شعر مې اوریده، ما ویل چې له خپل ذهن نه مې را وزي پر ژبه مې جاري کیږي او داسې مې و انګیرله چې دا خبرې زما دي او ښاغلی بخت زاده دانش یې وایي، خو د ده خبرې، د ده وې، او په خپل ځانګړې انداز سره یې ویلې او د ویلو او وړاندې کولو په یو ځانګړې هنر سره یې دا کار کاوه.
ما غوښتل چې په کامنټ کې یوازې بهرام صاحب نه تشه مننه وکړم، خو د دې شعر اوریدلو د خپل سکوت له کنډوالې نه یو ګلشن ته بوتلم. له ښاغلو بخت زاده دانش او عیسی بهرام نه د مننې تر لیکلو، سمدلاسه د بخت زاده دانش د شعر په پیروۍ، دا ځو توري هم ورسره پر کاغذ رسم شول. دا هم زما د کامنټ او ځو شعر ډوله تورو ښېړ متن:

نا پیژاند یار، بخت زاده دانش نه مننه!
او له ګران عیسی بهرام نه مننه، بیا مننه!
چې زما د مودو، مودو سکوت مانې یې را ونړوله،
د میاشتو او کلونو تنده یې را ته ماته کړه.
ما هم د ښاغلي بخت زاده دانش د شعر په اوریدو سره، سمدلاسه دا توري ور ته ولیکل:

آخوا ګورم، دې خوا ګورم
هیڅ څوک نه راځي نظر ته
پناه یوسم کوم یو غر ته
وطن وران شو لوټه، لوټه
هلته وران شو وطن وران شو
خلک ډوب دي جهالت کې
ګلستان نه را ستنیږي
ترکستان ته روانیږي
دلته هر څه ته چې ګورم، نو کړیږم
زه به څنګه پاتې کیږم؟
«زه به نه لیونی کیږم؟»

د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ لسمه
هیدرسلیف،
ډنمارک

# لاروركي لارويان

چـــې دوزخ كــړي جــوړ انســان تــه بـــل انسان
غــږ كـــا زه يــم، بــل څــوک نــه دی ايګــو خان

افـغــانــان كـــومـــه بـــيــرۍ كـــې ســـپاره شـــوي
ســم چــې وخــوځــې، نـــازل شـــي بـــيــا طـــوفان

نـه يـې كـور، شته نه يې كــلــي، وطـــن وران دی
كـــچــالو غـــونــــدې خـــواره پـــه ټـــول جــهان

نـــه يـــې كـــور شتـه نـه يې لورې نـــه آدرس شته
ســـــــرګـــــــردان د وركــــــو لارو لارويــــــان

د غــويي درو چـــې راغـــی بـل ســـور اور شــــو
ژر پـــر واک شول څلور بول څورب غـــويـــان

چې د ثـــور مياشت نږدې شي زړه مـــې ريږدي
چـــې نـــازل نـــه شـــي غـــضـــب بـــل د يـــزدان

لوغميـــزې، دوې پـــه ثـــور، يـــو پـــه جـــــدي
بـنـــــه يـــې نـــــه وو، پـــــه بـــدی بـــدې بـــدان

د غـــــويــــــي اومـــه يـــاده كـــــه پـــه بـــد كړې
ســـــره ســـوځــــي دا تـــــازه، تـــــازه كـــســان

كه د جـــدي د شـــپږمـــې يـــاد پـــه بـــد كـــړې
سپـــيـنـــې پټـــې درتـــه نـــيــغ شـــي كـــارمـــلـيــان

كـــه د ثـــــــور پـــــه اتـــمـــــــه ولـــړيـــږې
شـــنــه او ســـره اوړي لــــــه قـــهـــره مـــلايـــان

د شـــاګـــرد او د اســـتـــاد جـــګـــړه شـــوه پـيــل
ســـره ولـــويـــدل پـــــه خـــپـــلـــوكـــي ګـونـــديــان

ځـــيــنـــو ويـــلـــې اوروي ذُرا و ګــــــوهــــــر دی
خــــــو پــــه خـــولـــه يـــې ورتـــه كيښول بالښتان

تور مدیر ناست و په ټانک کې د روسانو
چې را و رسید حیران شول کابلیان

ویلې خوښ یمه چې راوستم روسانو
هسکه غاړه دې اوس ګرځي زما یاران

وفا تیره یې نیولې وه تېتر ته
خو جفا یې سوځول ټول مسکینان

چا ویل میندې به شي بورې ډیرې، ډیرې
ځنې غورځوي هر خوا انقلابیان

استاد تره ښه ویلي وو هر ګوره
تورو غرونه شول را کوز ځناوران

تور موټر ورته ولاړ وو سمدلاسه
سلامي شا و خوا ګرده سپاهیان

چې د خپلې ډلې شمیر یې زیاتولو
بل څوک نه وو، نو یې را وستل چرسیان

تور مدیر به چې سهار له خوبه پاڅید
ښه په شد او مد سینګار به یې کړ ځان

بیا یې وې چې هو، دا زه ثاني لینین یم
د هغه خبرې ورد زما د زبان

کشتمند نه غوښته فانتا له لاندې لارې
خو پرې وې څکله په جبر او په ګریان

د ده مخ د کوناټي غوندې ښوی ښک دی
په تندي کې یې لیدای شي سړی ځان

محمود جان به چې د زنې خال تازه کړ
وې څوک نه شته بس یو زه یم په میدان

چې د ثور شوه اتمه بل سور اور شو
بې ګناه با ګناه دل شول انسانان

«د کابل میوې خوراک وې د طوطیانو»
پرې را توی شول ږیره ور له پاکستان

ښې ببرې ږیرې هر خوا ډلې، ډلې
تر هر تار لاندې یې ناست دي شیطانان

د ګلونو کرونده کې يې اور بل کړ
پروا ګير نه و د ګل او ګلستان

چې په تراټ يې تيښته وکړه له دې اوره
نر هغه دی چې په تيښته خلاص کړي ځان

غلامي غواړي له خلکو دوی په زوره
خوشحاليږي چې لا ډير شي غلامان

اور يې بل کړ ورته کور کې ښه وګوره
بيګناه هره خوا تښتي مظلومان

قتلوي بيګناه خلک نه پوهيږي
مرګ به راوړي اجل دوی ته ارمغان

ښکته مځکې ته يې ډک زړونه چې وړي
فواري به کړي يو ورځې تر آسمان

د ټوپک نشه دې ايسته کړه له سره
ږيره وره راشه واوره دا بيان

غرغړې به کړم چې رنګ شي ديوالونه
ستا له ظلمه زړو اخيستي دي ټپان

ږيره ور، ورغومي تمه بل څه نه وه
کابل وران غوښته همدغه ايګوخان

کا ګي بې او آي اس آی، سي آي اې پريږده
په موساد و ځان پلورلی قهرمان؟

له بهر نه يې بار واخيست په څو ځلې
ترې نه پريوتل زرګونې حراميان

عبدالله خو په مسکو کې دا بيان کړه
جګړه ښه خوشحالوي زمونږ ياران

بلبلان ژاړي په بڼ کې او نليږي
حکومت کوي پر خلکو ښاماران

په ټتر کې يې زړه نه شته، توره تيږه
ده پرته چې رحم نه لري ديوان

دا خبره د سعدي نظم کې ګوره
چې کلونه پخوا ده کړله بیان

خر که پور کا د غويي ښکر کومه ورځ
کولمې پرې به نه ږدي نس کې د انسان

دا مظلومه پیشوکه وزر پیدا کا
پرې به نه ږدي په هوا کې ټول مرغان

سیاف ویلي مرغانچې هم ورانومه
پاتې نه شي به ودان دا مکرویان

بیا یې بد وهلي مټې تر څنګلو
چې تر تیغ تیر کړي هزار،هزاره ګان

نو یې ویست هزارې ته له پایڅې نه
هزاره هم زړګی سوړ کړ پر«اوغان»

یو وخت تږي وو، و ویني د یو بل ته
نو یې قتل کړل سلګونه هزاران

خو اوس وایي خبر نه یو مونږ له جنګه
ښا يي کړي وي جګړه کوم قومندان

اوس دي خره د یوه بار، په یو آخور دي
وایي دغسې دوستي وي جاویدان

د سیاف ږیره خو څپر د غوبل ده
میدوي خپلو پښو لاندې آدمیان

سیاف ږیرې نه جوړ کړی لوی څپر دی
ګرځوي یې په ککرو د انسا ن

دی سنت د پیغمبر نه وچ منکر دی
په ډالرو یې کړل ځیني وها بیا ن

زه ډاډه یم چې به فرضوته هم شا کړی
مګر ځان بولي مسلم تر مسلمان

سیاف وګوري چې ځان چیرته آیینه کې
په کرس خاندي تاووي خپل بروتان

ایګویزم یې له سترګو نه خوتیږي
چې په قهر شي را وباسي چشمان

خـوجه ئين ږيـره پـرې ايښي ښه مونـډۍ ده
ځـان ګڼـي د ښـو هـوښـيـــارو، هــوښـيـــاران

لــنګوټی يې شـخ تــړلـی چـې پـــه ســر دی
سنــــت نــه کــا، پـټــوي دی پــک ســران

لــنګــوټـی يـې شـخ پـر سـر بــانــدې تـړلـی
دی ګـنجی، سـر يې دی پـــک، کـَل کـــلان

دی پــه زغـــــرده او پـه جهـر بانـدې وايـي
پـــــه ښـــکاره نــــارې وهــي پـه عـــالـميـــان

نارينتوب پـه دې کې نـه ده چې کـړي مرسته
مــرد هـغـه دی اوږدوي چــــي قـبــرستان

ميندې خـويندې ويـنـي ژاړي ور ته ګــوره
چې سلـــګی وهــي لــه لـوړې مــاشــومـا ن

دغــه پـيښــه حـقـيقت ده، درواغ نـــــه دي
يــــــو راغـــلـی حــکا يـت لــه بـدخــشـان

جـواجــه يـين ليږي ډالرغربي بانکــو تـــه
خـيـر لـــه لـوړې کـه ستي شـول کوچـنيان

چې خـالـص ږيـره د ژمـــي پــه دود سره کــا
غـولـوي خــپـل نـــږدې خـلـــک مــخلصــان

ګــيلاني عـــرب جــرمن دی افــغــان نــــه دی
د پـيـری پــه پـلـمـــه ځــان ګـڼي افــــغــان

د دوسـتـــم کـــکـره تـــش د غـــوايي ســـر د ی
چــې پــولـغـو تې پـــيـدا کــيـږي نـــه دا شان

چــې ميدان يې وليد تش، نـــو قهـــرمان شـــو
ســيـــا ل يــي نــه لــيـده د ځـــان بـل پــهلوان

عکـس يــې بـنـد کـړلـو پـه بيره په کابل کې
د کــوم نــر زوی ور ډالی کـړل مــــــرداريان

د وحـشــت او بـــې رحــمـی نـــوم يـې دی تللی
په سـيالی کــې ی دريـدا نـــه شـي ســيــــالان

چور يې خښ کړ په هر څه صرفه يې نه کړه
په وياړونو د نيکونو د پغمان

د دې دور رهبران پشمي بُتان دي
ښه مثال م---جددي دی د دوران

ګلبدين چې وعظ ته کيني ځان رهبر کا
خو اصلي توښه يې قتل د انسان

دوی دې وژني زموږ ژني په مرميو
موږ يې وژنو په يو دود باندې ځوانان

مزاري د غلامۍ حلقه په غوږ کړه
ايمان تللی ځان سپارلی په ايران

د ده دومره په وس بس هم يې دا وکړه
ښه سپارلی يې ايران ته و باميان

دی چې کله تښتيده له طالبانو
چادري نه يې راوتي وو، ويښتان

د مرګ زيري يې ډالۍ کړلو کابل ته
عبدالحق ځان نه جوړ کړی قهرمان

د کچه ګړی په کمپ کې وريت نيني شول
د ګرمۍ له لاسه خلک شول بريان

رهبر وياړ کا چې کولر يې لګولی
يخ شمال تې خملولي دی غوايان

چا ويل چې «بد به ګرځي بد به پرځي»
آ چې بد يې وکړل ګرځي مست مستان

نعمتونه د دنيا واړه د دوی شول
اوس له خلکو غواړي نوم د صاحبان

اوس له ټولو عبادت غواړي په زوره
دوی ځانونو نه جوړ کړي غټ بتان

خدای خو يو دیيه بې شکه دا اقرار دی
خو دوی هر يو جلا ځان کني خدايان

خدايه څه شول آ درانه، درانه تندرونه
پرې راښکته يې کړه ته پاس له آسمان

طـــا لبــان هــم عجیبه غــونـــدي مخلــوق وو
هـــر څـــــه مــحـو بس طـــا لـب او طــالبــان

دوی بــــه ویـلـــي مــوږه ټــوله عــالـمــان یـــو
مـــګر دوی خـــو وو پــــه اصـــل جــاهـلان

میـلمستیــا د اســامــه نـــه وه ســـــور اور و
چې یـې وسول وچ لامـده، ازغـــي، ځـــوزان

بوش د خـپلو غولو ډنډ کې ډوب تـر ستـــوني
پـــروا ګیـــر نــــه دی د ځــان، نـــه د جـــها ن

اور یـــې بـل کړلو په ټول جهـان ښـه ګـــوره
پـــه کې سـوځـــي افـغـــا نــان او عـــــراقـیـان

پــه ویـــــل، ویــــل یـــې ژبـــــه اوږده شــوې
یــــا دوي هـــره شــــیـبــه افـــــغـــانــستــان

خپلـو غــولـــو کـــې نــښتی مست مـــوږک دی
بـــوش چـــې وایـــي عـــراقیــان او افــغــانـــــان

اوس خـــو پښه را ایستی نـه شي له دې ډنـــډه
پـــــه دې وجـــه دی هـــر کـــلـــه هـــراسـان

لــــکه خـــر چـنـــار تــه غاښ چیچي له لرې
خــــو چـــنـــارولاړ پـــر ځــای دی جـاودان

پـــه لاس نــــه درځي دا تــورې تیــږې ګــوره!
کــــه تـــرې جــــار کړې ټوله شته او سربازان

دلـــــته لاره مــــونـــدی نـــــه شي نه پــوهیږي
کـــــه را ولیــــږي زرګـــونــــه رامـــــــزفلـدان

ګــوتـــــه غاښ لاندې نیولې چې جورج بوش ده
تــیروتـــنو تــه اوس ګـــوري خــپــل حـــیران

دی حــمــلـي لکــــه زخـمي ښــا مــار هر خوا کا
پاس د خیر پـــه غـــــــونډۍ ناست ور ته روسان

خانـــدي خوښ دي خوشحالیږي چې مړه کیږي
چـې با یـــلي دا ستـــــره لـــوب امــــریکایــــان

تماشي ته خو يې ناست اوس ټول جهان دی
پښتنو دی ځيرې کړی خپل ګريوان

سرو لمبو ته د وطن د جنګ ور دانګي
لرې لرې ترينه ګرځي اخوانيان

زما زړه قلم، جګړه خو سره بيل دي
ځکه لرې ورک له مېني سرګردان

اروپا ته دي راغلي ډلي، ډلي
ور نه سر ټکوي ډير خپل او خپلوان

دا متل مې په مالمو کې اوريدلی
سر تړي کونه غربې ځيني کسان

مست به ګرځيدم په شنو باغو رغو کې
اوس پنډي يمه پنډونه وړم هر آن

دا دی ګرځم لا لهاند پردو ملکو کې
آوختونه را يادېږي چې وم ځوان

کله ولېږي خوږه وږمه د کلي
بيا غره شم په خيالو کې لکه خان

خوارى ډيرې را په برخه په جيلونو
يو د چک، بل د سلواک او لهستان

نه وژلي نه لوټلي کوم څوک ما وو
بې ګناه بې خطا پروت وم په زندان

هلته پاتي کورنۍ د زړه سرونه
چلوي به درانه پيټي غمی جان

دغو غرونو غرونو غم ته ګوره څه کا
تن مې سست، زړه مې زخمي کړلو هجران

خدايه ته را کړې پناه له هسې کاره
چې عالم شي زما له لاسه په ګريان

دا لاروکي لارويان به چيرته درومي
دوی يوازې دي په تمه د سبحان

د دوه زره څلورم کال د مارچ اوومه
هيدرسليف ـ ډنمارک

## د شاعرپیژندنه:



پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږیدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړي دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان ښار د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښوونې د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسي شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په لسګونو علمي تحقیقي مقالي او شعرونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او برییښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نیټي په شپیتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالی دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټي په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د رادیو افغانستان د روزنې اداري د علمي پروګرام «مور او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې یې په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کې ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلي دي او په یادو سیمینارونو کې یې لوستي دي.

په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ورله غاړې وو.

د سویډن په بیلابیلو ښارونو کې، د سویډن هیواد او په سویډن کې د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرست په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کې اخیستې، مقالې یې ورته لیکلي دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنۍ ژبې له راغلو ښوونکو سره یې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردي چاپیریال کې د مورنۍ ژبې د زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږیدلی، مشورې یې ورسره کړې او د سویډن په ستاکهولم، یوتیبوري او مالمو ښارونو کې یې ګڼ لکچرونه وړاندې کړي دي.

آصف بهاند د خپل ادبي فعالیت په اوږدوکې دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخییل مسأ له (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم متون، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوڅانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو څانګې درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې خپورشوی دی،

۱۳ ـ لارورکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی،

۱۵ ـ د سمندر وږه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ـ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ـ د امپراتور نوې جامې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، چاپ ته لیږل شوې.

۱۹ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اګست میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

یوه بله شعري ټولګه او درې څیړنیز کتابونه يې چاپ ته چمتو دي،

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څیړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.